# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۹٦ ګڼه / سه شنبه ۲۳ شعبان‌المعظم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۵ حوت ۱۴۰۲ هـ.ش / ۰۵ مارچ ۲۰۲٤ میلادي


## د کابینې اتلسمه غونډه؛
## د کابل - لوګر لويې لارې پاتې چارې بشپړېږي

د افغانستان اسلامي امارت د کابینې اتلسمه غونډه د رییس الوزراء ملا محمد حسن اخند په مشرۍ پرون ترسره شوه او په یو شمېر موضوعاتو بحث او پرېکړې وشوې.

په دې غونډه کې تولګتو چارو وزارت ته دنده وسپارل شوه څو د راتلونکي کال د ورې میاشتې په لومړیو کې دې له پُل محمود خان څخه تر چهار اسیاب پورې د کابل - لوګر لويې لارې د سرک جوړولو چارې پیل او پاتې کارونه دې بشپړ کړي.

همدا راز په غونډه کې د چاپېریال ساتنې ملي ادارې له لوري چمتو شوې د نیالګیو ایښودلو ۱۰ کلنه طرحه تائید شوه چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري به د اروندو ... ۷مخ



رئیس الوزراء:
## جهان، ظلم‌های جاری بالای مردم فلسطین را نمی‌بیند

نشست هماهنگی میان ادارات مربوط به ریاست الوزرا به ریاست ملا محمد حسن آخند رییس الوزرا امارت اسلامی افغانستان برگزار شد.

ارگ درخبرنامه‌یی نوشته است: این نشست به منظور افزایش هماهنگی میان ادارات مربوط ریاست الوزرا، تحت ریاست ملا محمد حسن آخند، رییس الوزرا امارت اسلامی افغانستان، در ارگ برگزار شد

در این نشست، داکتر ملا عبدالواسع، رییس عمومی دفتر ریاست الوزرا به اشتراک کنندگان درمورد هدف این نشست معلومات داد.

او گفت: هدف این نشست، سرعت در انجام امور ادارات مربوطه ریاست الوزرا، جلوگیری از تاخیر در اموراداری، افزایش هماهنگی و شفافیت بیشتردرکار است.

شیخ الحدیث نورالحق انور، رییس عمومی اداره‌ای امور، انجام بهتر مسؤلیت به گونه شرعی و درست ... ص۷

## د نشه يي توکو بدیل کښتونو د ترویج لپاره هڅې

د ریاست‌الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر آخوند، د ملګرو ملتو سازمان د نشه یي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې اداري له پخواني اجرائیوي رییس پینو الارچي سره وکتل.

باختر آژانس ته د ریاست‌الوزرا د اقتصادي معاونیت د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه کې دواړو لوريو په افغانستان کې د اسلامي امارت له لوري د نشه یي توکو پر وړاندې د ترسره شوې مبارزې او په دې برخه کې د افغانستان او نړیوالې ټولنې پر راتلونکو ګډو همکاریو خبرې کړې دي.



ملا عبدالغني برادر آخوند ویلي دي: «اسلامي امارت د تېرو څه باندې دوه نیمو کلونو پر مهال په افغانستان کې د نشه یي توکو د کښت او قاچاق پر وړاندې جدي مبارزه وکړه چې اوسمهال یې د تولید او قاچاق کچه تقریبا صفر ته رسېدلې ده».

هغه زیاته کړې چې اسلامي امارت، پر نشه یي توکو زرګونه روږدي کسان د درملنې په موخه راټول کړل، په ښه ډول یې د هغوی درملنه وکړه او ... ۷مخ

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال:
## افغان کډوال د پاکستان په نا امنیو کې لاس نه لري



د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د اسیا او ارام سمندر لپاره د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو د عالي کمېشنرۍ (UNHCR) له اغلي های کیونګ جون، په افغانستان کې د دغې ادارې له رییس لیونارد زولو او مل پلاوي سره وکتل. ۷مخ

## چینايي پانګه والو د مرمر ډبرو برخه کې د پانګونې غوښتنه وکړه

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور، د چین له یو شمېر پانګه والو سره وکتل.

د کانونو او پټرولیم وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په دې کتنه کې، یادو پانګه والو د افغانستان اسلامي امارت له لوري د پانګونې لپاره د مناسب چاپېریال ... ۷مخ

نورالدین‌عزیزی:
## افغانستان مسیر مناسب برای بازارهای آسیای جنوبی است

نورالدین عزیزی، سرپرست وزارت صنعت و تجارت، در ادامه سفر به جمهوری ترکمنستان از بندر ترکمن باشی آن کشور دیدار کرد.

به گزارش آژانس باختر؛ سرپرست وزارت صنعت و تجارت، هنگام دیداراز بندر ترکمن باشی، این بندر را برای ترانزیت افغانستان به کشورهای حوزه خزر مناسب دانست.

وی همچنان افغانستان رامسیر مناسب، برای دسترسی ترکمنستان به بازارهای آسیایی جنوبی خواند و گفت: افغانستان و ترکمنستان از موقعیت جغرافیایی مناسب برخورداراند و با استفاده ازاین موقعیت، دوکشور شاهد رشد اقتصادی بیشتر خواهند بود. ص۷

## د ښوونکو مسلکي پراختیا امریت به راتلونکی کال خپلې چارې پیل کړي

**شریعت:** د پوهنې وزارت په دایره کې د ښوونکو روزنې او مسلکي پراختیا څانګه به تر راتلونکي ۱۴۰۳م هجري شمسي کال له پیل سره خپل تشکیل پوره کړي او او خپلې چارې به پیل کړي.

د یاد وزارت د عامه اړیکو او نشراتو رئیس منصور احمد حمزه شریعت ته وویل، چې تر اوسه مو دغه نوی تشکیل پوره شوی نه دی او د همدې لپاره بیاځلي کمېټه ورته ناسته ده، چې ۴۱۴۸ بستونو څخه چې ۱۴۹۵ پاتې دي، نوي کسان پرې وګوماري. دهٔ په دې اړه وویل: د یاد وزارت د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست ته ټولټال ۴۱۴۸ خالي بستونه ځانګړي شوي وو او پر بنسټ یې ... ۷مخ

## شبرغان-مزار د ګازو پروژې چارې به ژر بشپړې شي



د کانونو او پټرولیم وزارت وايي، له شبرغان څخه تر مزار شریف ښار پورې د ګازو نل لیکې د جوړېدو چارې ۶۳ سلنه بشپړې شوې دي.

ددغه وزارت د چارواکو له یادښته چې دا نل لیکه ۹۵.۵ کیلومتره اوږدوالی لري چې پاتې چارې به یې هم ژر بشپړې شوي دي. ویل کیږي چې یاده نل لیکه په ۲۴ ساعتونو کې د ۱.۵ میلیونه متر مکعبه ګازو ... ۷مخ

سرمقاله

## د افغانانو برى او ګټه په یووالي کې ده!

لکه څنګه چې ټول پوهېږو افغان ولس د څه باندې څلورو لسیزو له سختو جګړو تازه را وتلی، د ختیځ او لویدیځ هغو نړیوالو یرغلګرو له تاړاکونو چې لس ګونه نور اشرباني هم ورسره مله او زموږ هېواد او ملت یې له فرهنګي، اقتصادي او ټولنیز پلوه دومره ځپلي چې د نړۍ او چم ګاونډ هېوادونو د پرمختګ له کاروانه ښايي لس ګونه کاله ورسته پاتې شوی وي.

البته موږ نه یوازې دا چې په تېره جنګي مرحله کې له ستونزو او کړاوونو سره مخ وو، اوس هم لا هماغسې د تښتېدلو غلیمانو له عقدو او سل رنګه دسیسو سره ځکه لاس ګرېوان یو چې زموږ په اړه د یرغلګرو کینه کښ زړونه لا هم نه دي ساړه او غواړي موږ سره له نورو لارو خپله دښمني وپالي.

دا چې اوس د څښتن تعالی په فضل لږ ترلږه د دښمن ښکاره یرغل پای ته رسېدلی، کورنی امنیت ټینګ شوی او د هېواد واکمني د یو داسې مخلص او هېواد پال قیادت لاس ته ورغلې چې له بلا ډېرو بهرنیو ګواښونو سره سره هم کورني انتظامات په خورا ښه توګه پرمخ بیایي او هم بهرنۍ اړیکې په منطقي ډول پاللی شي. بنا پردې اوس مهال نو هر افغان له دیني، ملي او وطني پلوه مکلف دی چې د خپل هېواد او ملت تېر وضعیت او موجوده ستونزې په نظر کې ونیسي، د خپل اوسني ملي حاکمیت څنګ ته ودرېږي او د هېواد هر اړخیز پر مختګ، بسیاینې او د نورو له احتیاجه خلاصون په لار کې انتهايي ډېره هڅه وکړي. ځکه ښکاره ده چې که د افغانانو حکومت او رعیت په کامل اخلاص یو بل سره کلکه خواخوږي او پیوستون ولري، د پردیو لمسونو ته غوږ ونه نیسي او په هغو بې ګټو چاروکې ... ۷مخ

| | | | |
|---|---|---|---|
| د تاریخ په اوږدو کې اشغال ۲ | با مدیریت دقیق آب، توان اقتصادی کشور افزایش خواهد یافت ۳ | د ځوان نسل بې لارېتوب ته د کفارو خاصه پاملرنه! ۴ | افغان اعلانات ۶ |

## ده‌ها زندانی افغان از زندان‌های پاکستان رها شدند

قنسلگری افغانستان در شهرکراچی پاکستان اعلام کرده است که ٤٠ زندانی افغان که در میان شان یک زن نیز شامل است، اززندان‌های ایالت سند آزاد شده‌اند.



این افراد پس از آزادی به افغانستان منتقل شده‌اند.

در بیشتر از یک سال اخیر، ۳۲٦۱ زندانی افغان از زندان‌های ایالت سند پاکستان آزاد و به کشور منتقل شده اند.

این افراد بیشتر به دلیل نداشتن اسناد اقامت زندانی شده بودند.

د افغان تور دولتي شرکت:
## سږ کال مو څه باندې ۶۹ میلیونه افغانۍ عواید تر لاسه کړي

**شریعت:** د افغانستان اسلامي امارت په واکمنېدو سره دا مهال هېواد ته د بهرنیو سیلانیانو راتګ زیات شوی او د سیاحت د ودې او پراختیا لپاره ښه فرصت برابر شوی دی. د افغان تور دولتي شرکت د روان کال په لومړیو دریو ربعو کې د مالیې وزارت له لوري (۳۲۱۲۷۰۰۰) افغانۍ هدف تعین شوې وو، چې خوشبختانه (۶۹۲۸۰۹۰۷) افغانۍ عواید زیات ترلاسه شوې دي.

د افغان تور دولتي شرکت رئیس محمد نبی بهاء د شریعت ورځپاڼې خبریال ته په یوې ځانګړې مرکه کې وویل: په روان کال کې د افغان تور دولتي شرکت اجرائیه کمیټې په لاربښوونه په مرکز او په ځینو ولایتونو لکه: هرات، بلخ، کندهار، غزنی، لوګر، پکتیا، خوست او ننګرهار کې د سیاحتي ... ۷مخ

## جهادي خاطرې

# د مخلص شهادت

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

۱۳۹۹/۴/۱۳ هـ لمری

کرۍ شــپه د ولسوالۍ په مرکز درنه جګړه روانه وه، چې شاوخوا د سهار درو بجو ته د الله په نصرت او د مجاهدینو په مېړانه او سرښندنې فتحه راغله، خو بیا هم په ځینو ودانیو او ژېر خانو کې د دښمن ځینې عناصر پاتې وه او تســلیمۍ ته یې غاړه نه اېښودله. کله چې سهار لمر څرک، واهه، مجاهدینو بیا ځلې چانيز عملیات پیل کړل، نو یو شــمېر عسکر چې په سمڅو کې پټ شوي و، را وایستل شو. مجاهدین تشـیال ته ډېر متوجه وو، چې خدای مه کړه هسې نه ډرون یا چورلکې راشي او مجاهدین خوږ کړي. دې وخت کې زه د دوو درو ملګرو سره د فراه رود بازار کې د یوه دوکان اړخ ته کښېناستلم، څــو دقیقې همدلته په خبرو لګیا وم چې مجاهدینو مخابرو کې نارې کړې چې بنګنې راغلې ما چې کله دا ږغ واورېد نو په منډه موټر ته وختلم او ملګري هم راوڅغستل. لوکسل مې مخامخ د آبخورما په لور پر پاخه ســړک روان کړ، ټولې ته څېرمه د تېلو پمپ تــه ودرېدو دلته د هرات کندهار د لویې لارې ډېر موټرونه د لارې خلاصېدا ته انتظار و، په همدې وخت کې بنګنو دوه مېزایل وتوغول.

کیســه داســې پېښــه وه، موږ چې له دې ځایه حرکت وکړ لږ ګړۍ وروســته د فراه ولایت د نظامي کمېســیون مســؤل ملا عبدالرؤف مخلص چې (د هرات ولایت د کشک کهنه ولسوالۍ) استوګن و نوموړی ډېر تقوا داره، په کار پوه او د اســلامي امارت اصولو ته ژمن او متعهد مجاهد و، دی همدغه ځای ته راغلی او نور مجاهدین هم دلته ورسره یو ځای شول په همدې مهال ډرون برید کوي او شپږ تنه مجاهدین په شهادت رســېږي او ګڼ شمېر هم ژوبلېږي. د شهیدانو په ډله کې مخلص صاحب شــهید او همدا شان مولوي محمد شهید چې زموږ ملګری او د فراه رود د خم کوښا اوسېدونکی و، هم شــامل و. په دې ناځوانه برید کې د الفاروق قول اردو عمومي او زموږ وفاداره ملګری امام الدین (صادق مولوي صاحب) هم سخت ژوبل، کېږي چې وروسته یې بیا راسته پښه قطعه کېږي.

د دې پېښــې ســره د فراه رود فتحې خوشــالي چې له کلونو موږ ورته تږي و، د ملګرو د شهادت او ژوبلېدا لامله ورباندې سیوری غوړېږي. الله تعالی دې د مخلص صاحب قبر منور وګرځوي، واقعاً تکړه، پوه، نه ستړی کېدونکی او با تدبیره مجاهد و.

***

### زلمکیه مجاهده!

۱۳۹۹/۱۱/۱۷ هـ ل

عمر به یې ایله شلو کالو ته رسېدلی و، فکر به کوي چې دا د شلو کالو راغلي یرغلګر یوازې ده مات کړي. ټول خلک به ورته بې زړه او د جهاد منکرین ښکاري ...

نه به د عالم قدر کړي، نه به د ســپین روبي احترام کړي، ولسي وګړي به ورته ټول مجرمین ښکاري. که کوم څوک ورته د حکمت، مصلحت او د ولس سره د ښېګڼې خبره کړي داسې به ورته ښاري لکه د ده دښمن. داسې به انګېري چې دا تېر شل کلونه هم دومره هوسایي وه لکه نن!!

هوکې، دی لا ماشــوم و چې دلته په خورا ســتونزمنو حالاتو کې خلکو په خالي لاس د یرغلګرو په خلاف مبارزه شــروع کړې وه، نه یې د شپې لېزر او دوربین پېژندل، نه یې ایم فور او جېسي لرل، نه یې دهشــکه او زیکویک ښکاره کولای شول، نه یې امریکایي غټ او وړوکی ثقیل پېژندل او نه یې د لوکسل او فیلډر پستې چوکۍ لمس کړې وې.

هوکې! هغه خورا ســختې شپې وې. دومره بې اعتمادي خپره وه چې خپل د څنګ ملګري به دې نه شــو خبرولای، د پلار او وروڼو په غلا به د مجاهدینو ســره عملیاتو ته تلل و، چا به له ډاره په کوټه کې شــپه نه درکوله، هېڅ د امن ځای نه و، د یرغلګرو شــوبلې به دره په دره، کوڅه په کوڅه په خورا مغرورانــه ډول ګرځېدلې، د ډېډېنــو، بلیک هاک چورلکو او ایف ۱۶ بــم غورځوونکو به ټوله ورځ غرهار و. خلکو به مجاهدین لیوني بلل. د امریکا ســره یې جګړ خپل ســر د کاڼي سره د جنګولو په معنا تعبېروله. خو بیا هم څو خدای پرســته زاړه او ځوانان یوازې پر الله جل جلاله په توکل محض راولاړ شــول په ډېر مخفي، مرموز او غلچکي شــکل یې مبارزه شروع کړه. نو اې شل کلنه ځوانه! تا هغه مهال ابله پل اخېستی و، ته لا د کافر او مسلمان په توپیر نه پوهېدې.

اې زلمیه! ماته غوږ سه! دا دومره ستونزمن حالات و چې ډېر پیاوړي خلک یې د دښمن ځولۍ ته ور ټېل وهل. زلمیه! بیا داســې کېسه وشوه چې دې ملت کې ځېنو اېماندارو د دې مجاهدینو نصرت او ملګرتیا وکړه، ډوډۍ او شــپه یې ورکړه، پوره پوره کورنۍ د دې مجاهدینو د حمایت او ساتنې په جرم بمبار او تر خاورو لاندې شــوې. زلموټې! لطفاً د غرور له نیلي راکښته شه لږ یې ساړه خوره، په خپل ګرېوان کې د څو شــېبو لپاره سر ځوړند کړه. پام!! هغه بزګر چې ته یې په کوڅه کې د لوکسل تر دوړو لاندې کوې ســتا په اوســني منصب کې د ده خورا لویه ونډه پرته ده. دا د ده د ډوډۍ او مېلمســتون برکت و چې ته اوس آزاد په دې کوڅو کې تاوېږې. زلمیه خبره واوره! هاغه عالم چې ته یې په دې ګرم بولې چې جهد یې نه دی کړی او په ټېټه ورته ګورې، دا د ده د ملاتړ برکت و چې خلکو ستا مبارزې ته جهاد او ســتا ملګري ته شهید وویل او ستا مقابل طرف یې غلام، اجیر، د کفارو مزدور او واجب القتل وبلل. لږ را ویښ شــه! دا مخامخ سپین ږېرې هغه کس دی چې زما او ستا ملګری به شهید او د دښــمن لاس ته ولوېد او یا به مو انډېوال اسیر شــو، ده به یې د خلاصون لپاره منډې ترنډې شروع کړې. اې! هسې نه چې داسې فکر وکړې چې دا دومره نیوکې راباندې کړې ته مې هم غلیم یې داسې نه ده ورورکیه دا ټولې خبرې په دې درته کرم چې زما او ســتا مســیر یو دی، دښمن مو یو دی، هدف مو یو دی او ستا په ناکامیو مې زړه بدېږي. زړګیه! جهاد خورا سپېڅلې فرېضه ده، چې اجر یې دومره زیات دی ... نو بېلارېتوب هم په کې هلاکت دی. دا د ورورۍ توصیه مې واوره، ولاړ شــه کوم عالم او ملا ته ګونډه ووهه چې د جهاد په غرض او هدف دې پوه کړي. په دې دې پوه کړي، چې په جهاد کې د غنیمت سره څومره احتیاط په کار دی؟ دا درته په زړه کې چې د ولسي وګړو سره څه ډول تعامل وشي؟ په دې به دې هم پوه کړي چې هغه ځوانان چې ستا تر قومندې لاندې دي څومره ستر امانت دی؟! او ځوانه! دا وروستۍ خبره مې واوره... پام! چې کوم چاته بې موجبه برګ ونه ګورې کېدای شي هغه د کوم شهید پلار، ورور، کاکا، ماما، نږدې خپل او یا هم کوم دردمن افغان او مسلمان وي په یاد ولره! دا ولس ډېر مېړنی ولس دی، مومن ملت دی، څلوېښــت کلنو جګړو خورا ځپلی، سترې دی، وږی، بې ســرپناه دی، بې یار او مدد ګاره دی، هېڅوک یــې په خپل هېواد کې دمې ته نه پرېږدي، د الله په خاطر یې ډېر خیال وساته، پر سر یې لاس ورتېر کړه، اوښکې یې پاکې کړه. لالیه! د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت مطالعه کړه چې په امن او جګړه کې یې له دوستانو او غلیمانو سره چلند څه ډول و؟ او دا هم درســره یاد داښــت کړه، هغه یکې یو ذات دی چې پر یوه حالت وي او پاچاهي یې تل ترتله وي نو تل به دا حالت نه وي. په ډېر دقت او ورورولۍ به ګوزاه کړي، که څوک کوم سالم نقد، نېوکه یا اعتراض کړي، نو ته ســړمو ته هوا مه ورکوه، بلکې په ســړه سینه یې واوره او ستا پر کړنو اعتراض پر اسلام اعتراض مه ګڼه.

په پای کې زړګیه! ســتا د کامیابۍ او ســرلوړۍ لپاره لوی الله ته لاســونه لپه کوم او یوازې ته او ستا همزولي ځوانان زموږ د امېد سترګې او راتلونکی مو تر تاسې پورې تړلی دی.

والسلام علیکم ورحمة الله و برکاته

# د تاریخ په اوږدو کې اشغال

**ابوالیاس جهادوال**

اشــغال د تاریخ پــه اوږدو کې په بېلابېلو بڼو شــتون درلــود او مخینــه یې ډېــرو پخوانیو زمانــو حتی د عیسی علیه‌السلام له پیدایښــته ۱۱۰۰ کاله وړاندې د فنفیقیانــو، یونانیانــو او ورپســې رومیانو زماني ته ورګرځي، لومړی ځــل فنفیقیانو له خپل قلمرو څخه د باندې د ســوداګرۍ پراختیا او خپل فرهنګ دودولو پــه موخه نظامي کمپونه جــوړ کړل، چې دې لړۍ تر پنځلســمې میلادي پېړۍ پورې دوام وکړ. همدارنګه رومي او فارســي امپراتوریو هم له خپل قلمرو څخه بهر ځینې ســیمې او هېوادونه تر خپل کنټرول لاندې راوستي وو چې د اسلام مبارک تر ظهور پورې یې تر خپلې ولکې لاندې وساتلې.

د غربي او اروپایي هېوادونو له‌خوا د اشــغال لومړني تحــرکات د پنځلســمې ۱۵ پېړۍ پــه نیمایي کې له صنعتي انقلاب ســره هم‌مهاله پیل شــول. اروپایانو چې کله د خپلو مذهبي او سیاسي دودونو اصلاح پیل کړه، نو غوښتل یې چې دغه نظریات نورو هېوادونو په ځانګړې توګه اســلامي نړۍ ته هم ولېږدوي. چې په دې ترځ کې پرتګالیانو د شپاړلســمې نړۍ په نیمایي کې ختیځه او لوېدیځه افریقا، فارس او عربي خلیج، د ملیبار او ســیلون ســواحل، هند، کومور، مالیزیا، اندونیزیا او مالدیو په اشــغال سره ســتره امپراتوري جوړه کړه.

هسپانویانو د کریستف کولومبس د کشفیاتو پر بنسټ د هند ختیځ او د شمالي او سویلي امریکا سیمې چې نن ورځ د متحده ایالتونو په نــوم یادېږي، تر کنټرول لاندې راوستې او له هغه وروسته یې الجزایر (۱۵۱۰ کال) او برونــي (۱۵۸۰ کال) هېوادونــه هم لاندې کړل.

پــه همــدې ډول اروپایــي اشــغالګرو په تېــره بیا انګلســتان د لومړي ځــل لپاره پــه ۱۵۷۸ میلادي کال کې د ســوداګریزو شــرکتونو لارې لومړی هند او ورپســې ګامبیــا (۱۵۸۸ کال)، مالیزیا (۱۷۹۵ کال)، اندونیــزیا (۱۸۱۱ کال)، یمن (۱۸۳۹ کال)، بروني (۱۹۴۵ کال)، نیجریا (۱۹۵۴کال) بنګلادش (۱۸۵۴کال)، افغانســتان (۱۸۵۸ کال)، اوســنی (۱۸۰۳کال)، مصر (۱۸۸۲کال)، عراق (۱۹۱۷کال)، بحریــن (۱۹۲۶کال)، ســودان (۱۸۶۳کال) مالدیــو (۱۸۷۷کال)، امــارات (۱۸۹۲کال)، قطر (۱۹۱۶کال)، کویــټ (۱۸۹۵ کال)، عمان (۱۹۰۴ کال) او اردن (۱۹۲۱کال) د خپلــې امپراتــورۍ تــر پوښښ لاندې راوســتل، چې په بېلابېلو بڼو یې خپل استعماري سیاستونه په‌کې پلي کول.

فرانســې هم په یــوه ورته اقــدام کې پــر موریتانیا (۱۸۵۸کال)، ســوریې (۱۷۹۸کال)، الجزایــر (۱۸۲۷کال)، ګینــا (۱۸۷۹کال)، ســنګال (۱۸۹۳کال)، مراکــش (۱۹۲۴کال)، تونــس (کال۱۸۸۱)، چاد (۱۸۹۵کال) او مالي (۱۸۹۸کال) هېوادونو بریدونه وکړل او هغه یې د خپلې امپراتورۍ تر قیادت لاندې راوستل.

همدارنګــه قرقیزســتان (۱۶۸۳کال)، لیبیا (۱۹۱۲ کال) او آلبانیا (۱۹۲۸کال) د ایټالیا؛ مراکش (۱۹۱۲ کال) د هسپانویانو،فرانسویانو او بروني هم د جاپان له‌خوا اشغال شو.

چې په دې توګه د انګلســتان په امپراتورۍ کې د هند لویــې وچې څخه نیولې تر مصر، ســوډان، یوګاندا، لایتنه امریکا، مالیزیا، برما او د اســیا سویل ختیځې سیمې شــاملې وې چې د ۲۶ هېوادنو په لاندې کولو سره د اشغال شویو سیمو سره ۳۵.۶سلنه برخه واک چلاوو.

دغه مهال فرانســې د ۱۶ هېوادونو په اشغال او ۲۱.۹ سلنه اشغال شویو سیمو لاندې کولو سره د اشغالګرو هېوادونو په لیســت کــې دوهم ځــای درلود چې د افریقا او د ســویل ختیځې آســیا کابــو ۳.۵ میلیون کیلومتــر مربع ځمکــه او ۲۶ میلیونه وګــړو باندې یــې کنټرول درلود. دغه راز روســیې د ۵ هېوادونو په ولکې سره ۶.۴۸ سلنه، پرتګال پر ۵ هېوادونو د لکې له امله ۶.۴۸ ســلنه، جرمني د یو هېواد په اشــغال ســره ۱.۳۶ ســلنه، ایټالیا د ۳ هېوادونو په مستعمره کولو ۱.۴، هســپانیې د ۳ هېوادونو په اشــغال ســره ۱.۴ ســلنه او هالند پــر دوو هېوادو حاکمیت ســره ۲.۷سلنه د ســیمو او هېوادونو په اشــغال کې ونډه درلوده.

په دې لــړ کې له ټولو زیــات زیان افریقــا ولید، په ۱۸۷۰ کال کــې د دغې لویې وچې کابو ۱۰ ســلنه خاوره د پردیو اشــغالګرو هېوادونو له‌خوا اداره کېده چــې په ۱۹۰۰ کال کې دغه کچه ۹۰ ســلنې ته لوړه شــوه او یوازې لس سلنه افریقایي وګړي خپلواک وو. په همدې توګــه په ۱۹۳۹ کال کــې د نړۍ څلورمه برخه وګړي چې ډېری یې غیر ســپین پوســتي وو، د بریټانیا په اســارت کې اوســېدل. په داسې حال کې چې د هغوی اړوندو ســیمو د نړۍ درېیمه برخه سره زر، نیمایــي برنز، درېیمه برخــه بوره، مس او د ډېرو ســکاره تولیدول. دغه مهال د فرانســوي امپراتورۍ پراختیــا د دغې هېواد د اصلــي خاورې ۲۶ برابره وه او هالند بیا داســې یوه امپراتــورۍ رامنځته کړې وه چې د خپل جمعیت نــه برابره نفوس یې په‌کې ژوند اوو.

اروپایانــو په ۱۸۷۰-۱۹۰۰ کلونو کې له لس میلیونه میله مربع ځمکې څخه زیاتې سیمې او ۱۵۰ میلیونه وګړي (کابو ۲۰ ســلنه ځمکه او له لس سلنه نفوس) تر خپل کنټرول لاندې راووست چې په دې کې کابو نیمایي سیمې او ۶۰ سلنه وګړي د انګلستان تر ولکې لاندې وو.

پــه دې توګه د ۱۸۱۵ ـــ ۱۹۱۴ کلونــو په ترځ کې تر اروپایي اشغال لاندې ســیمو حجم له ۳۵ څخه آن ۸۵ ســلنې ته لوړ شو او د نړۍ کابو ټولې لویې وچې په ځانګړې توګه افریقا او آســیا په یو ډول سره د دغو اشغالګرو تر اغېز لاندې وي.

# د کابل – عشق آباد سوداګریزې او ټرانزیټي همکارۍ مخ پر زیاتېدو دي

**وحیدالله ـ هڅاند**

په دې وروســتیو کې افغانســتان د سیمې او ګاونډ له هېوادونو سره د نویو ډیپلوماټیکو اړیکو باب پرانیستی او د تېــرې اوونۍ راهیســې دا دوهــم ځل دی، چې د اســلامي امارت د لوړ پوړي پلاوي په مشــرۍ د خصوصي او اقتصادي ســکټور غړي د ترکمنستان په رســمي بلنه عشق آباد ته سفر کوي، د یاد سفر اصلي موخه د افغانستان او ترکمنستان تر منځ سوداګریزو او ټرانزیټي اړیکو ته پراختیا ورکول دي، چې دا هڅې به وکولای شــي د وېزو د تر لاسه کولو په ګډون د افغان سوداګرو پر وړاندې شته ســتونزې هواري کړي، څو دواړه هېوادونه په ښــه توګه ســوداګریزه راکړه ورکړه وکولای شي.

له دې وړاندې د بهرنیو چارو سرپرســت وزیر مولوي امیر خان متقي د ترکمنســتان له ملي مشر قربانقلي بردي محمدوف ســره کتلي.متقي په دغه کتنه کې د ترکمنســتان ولسمشر ته په افغانســتان کې د امنیت، ثبــات، پانګونې او ټرانزیټ لپــاره د نویو فرصتونو د برابرولو په تړاو مالومات وړاندې کړل. د ترکمنســتان ملي مشــر په دغه کتنه کې ښــاغلي متقي ته پوره ډاډ ورکړی او په دې یې ټینګار کړی، چې افغانســتان ته د ګازو او برېښــنا لېږد تر څنګ به د رېل پټلۍ د پراختیا په برخه کې هڅې لا ګړندۍ کړي.

له ترکمنستان سره د افغانستان په تاریخي او کلتوري مشــترکاتو ســربېره او په تېره بیا په ۱۹۹۵ م کال کې د ترکمنستان له خــوا د مثبتې بې طرفه پالیســي په تصویبولو ســره، د دغــه هېواد اړیکې له افغانســتان ســره ښــې، پراخې، ژورې او باثباته شــوې. د دوو خپلواکو هېوادونو ترمنځ تېــرو اړیکو ته په کتو، او د دواړو خواوو ترمنځ د اړیکو اوســنۍ ښه والی، د ښې راتلونکې لپاره غوره زیری بلل کېدای شي.

وروســته له هغې چې ترکمنستان له پخواني شوروي اتحاد څخه خپلواکي ترلاسه کړه، تل یې د افغانستان په ګډون له ګاونډیو هېوادونو ســره د نورو شته اړیکو ترڅنګ د فرهنګي اړیکو د ټینګولو لېوالتیا لرله، چې په افغانســتان کې بیا د ټېرو امنیتي ستونزو له امله به کله ناکله د ترکمنستان اړیکې له خنډ سره مخ کېدې، ښه بېلګه یې افغانستان کې ټاپي پروژه ده، چې په ټېر دور کې یې د بې ثباتۍ له امله کارونه ټکني شول، خو د اســلامي امارت په بیا واکمنېدو سره ترکمنستان ته ډاډ ورکړل شو، چې د دغې پروژې د مسیر امنیت یې تامین کړی او په دې برخه کې به نورې ســتونزې هم حل کړي. له ترکمنستان څخه پاکستان ته د افغانستان له لارې د برېښــنا لېږد پروژه یو له هغو مهمو مسئلو څخه ده، چې اسلامي امارت له ترکمنستان سره نږدې کوي. له دې لین څخه په ګټې اخیســتنې ترکمنستان شاوخوا ۱۰۰۰ میګاواټه برېښنا پاکستان ته صادروي. د دې پروژې په پلي کېدو سره به افغانستان د ټرانزیټ د حق تر څنګ، د هغې له برېښــنا څخه هم برخمن شي.

د افغانســتان او ترکمنســتان تر منځ د ټاپي پروژې د پایپ لاین په برخه کې د همکارۍ او سیمه ییز ادغام ترون د نولســمې پېړۍ پیل ته رسېږي. په هغه وخت کې ترکمنستان د شــوروي اتحاد تر استعمار لاندې و، خــو کله چې پخواني شــوروي اتحاد ټوټې ټوټې شو، ترکمنســتان هڅه وکړه،چې د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره خپــل ګاز نړیوال بازار ته صادر کړي. په همــدې خاطر په ۱۹۹۸ کال کې د افغانســتان له لارې پاکســتان او بیا هند ته د دغه هېواد د ګازو د نل لیکــې د تېرېدو پلان د امریــکا د یونیکال کمپنۍ له خوا وځېړل شــو، دغــه ۱۷۳۵ کیلومتره پایپ لاین د ترکمنستان له دولت اباد څخه پیل او د هرات ولایت له لارې تر کندهاره غځېږي او د پاکســتان له کویټې او ملتان څخه تېرېږي او د هند فاضلکا ته رسېږي. د دې پایپ لاین له ټولو زیات اوږدوالی د افغانستان له خاورې تېرېږي.

د دې تر څنګ کابل کې د ازبېکســتان ســفیر یادګار خواجــه شــادمانوف د افغانســتان - ازبېکســتان د سوداګریز اتصال په غونډه کې ویلي، چې په اقتصادي او ســوداګریزه برخــه کې له کابل ســره د تاشــکند اړیکــې د پراختیا په حال کې دي. دغه ازبېکســتاني چارواکــي ویلي، چې تاشــکند له افغانانو ســره د اقتصاد، ســوداګرۍ، ټرانزیټ، ټرانســپورټ، برېښنا او بشري مرســتو په برخو کې لازمې همکارۍ کړې دي. نوموړي همدارنګه زیاته کړې، چې سرپرســت حکومــت د امنیت د تامین په برخه کې مثبت ګامونه پورته کړي او له ګاونډیو هېوادونو ســره یې دوســتانه اړیکــې ټینګې کــړې دي. د ســوداګرۍ او پانګونې خونې هم ویلي چې سرپرســت حکومــت باید له ازبېکستان سره ګډ دایمي نندارتون ولري او دغه راز د سوداګرو د ویزې ستونزو ته هم رسېدنه وشي.

په رښتیا هم اســلامي امارت خپل بهرنی سیاست د خپلواکۍ، ملي ګټو، ځمکنۍ بشــپړتیا، نه لاسوهنې، ښه ګاونډیتوب او متقابل درناوي پر اساس تنظیموي او هېــڅ کومې ډلې ته بــه اجازه ورنــه کړي، چې د افغانستان له خاورې ناوړه ګټه پورته کړي. له همدې امله ترکمنستان د مثبتې بې طرفې پالیسۍ پر بنسټ د اسلامي امارت له مشــرانو سره ګوري او په مستقیمه توګه د سوداګرۍ د پراختیا په موخه افغان لوري ته بلنه ورکوي، چې سوداګریزې اړیکې یې پراختیا ومومي، لــه همدې امله د نــوي ۲۰۲۴ میــلادي کال له پیل راهیســې د افغانستان او ترکمنستان تر منځ سوداګرۍ پراخه شــوې او د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګریزې او ټرانزیټي همکارۍ مخ پر زیاتېدو دي.

لنډه داچې له کابل سره د عشق آباد له دوستانه اړیکو داسې ښکاري، چې د افغانستان د تولیداتو په ځانګړې توګه مرمر ډبرو، ګول سیخ او نورو خاصو تولیداتو په هکله ښــه ټرونونه ولري، چې ګاونډ ترکمنســتان به ۴۵۰ میلیونه ډالره او افغانســتان یوزاې ۱۵۰ میلیونه ډالره ونډه ولري.د افغانســتان او ترکمنستان ترمنځ د دوه اړخیزو سوداګریزو اړیکو په برخه کې باید یادونه وشــي،چې د هرات تورغونــډۍ او د فاریاب آقینې بندرونه د دواړو هېوادونو ترمنځ د ســوداګریزو توکو لــه ټولو مهــم بندرونه دي. د دغــو بندرونو له لارې افغانستان او ترکمنســتان کولای شي د دواړو خواوو د اړتیا وړ توکي وارد او صادر کړي. ترکمنستان یو له هغو هېوادونو دی،چې افغانســتان ته د تېلو او برېښنا په برخه کې له ټولو ډېر صادرات لري.

# با مدیریت دقیق آب، توان اقتصادی کشور افزایش خواهد یافت

**احمد**



بارش برف و باران های اخیر در کشور، نویدی به ختم خشکسالی است، خشکسالی که افغانستان را از هر حیث متضرر و نگران ساخت بود، اما حالا با بارش برف و باران های سنگین باور را به آینده بهتر و شاداب تر امیدوار ساخته واین مژده را به مردم افغانستان به ویژه دهقانان میدهد تا بیشتر از هر زمان دیگر به کشت و زراعت بپردازند. زمین های که در چند سال پسین به دلیل خشک سالی مورد استفاده قرار نگرفته بود، را شخم زنند و آماده بهره برداری سازنده زیرا به قول معروف سالی که زیباست از بهارش پیداست. آری بارندگی های اخیر و ادامه‌ی آن این فرصت را مساعد ساخته تا دهقانان ما در پی زرع نه تنها گندم آبی، بلکه در تلاش کشت و زرع گندم للمی نیز باشند، همچنان مالداران ما هم بدانند که این بارندگی ها در آینده نزدیک کوه و صحرا را شاداب و خرم خواهد ساخت تا رمه‌ها و گله هایشان نه تنها که فربه و ازدیاد خواهد گشت، بلکه باعث زیبایی طبیعت نیز خواهد گردید.

افغانستان کشوریست محاط به خشکه، آب مورد ضرورت خویش را از کوه پایه هایی که دریاهای خروشان را تشکیل می دهد، به دست می آورند که بلاشک بارش برف و باران های اخیر خبر از خروش دریاها و فراوانی پیداوار زراعتی و رشد مالداری در کشور دارد که باید دهقانان و مالداران ما این فرصت را از دست ندهند.

مسلماً ۸۰ فیصد مردم افغانستان زراعت پیشه و مالدار اند که زندگی و شغل این ها، وابسته به آب و به ویژه بارش برف و باران های فصلی است، از اینرو گفته می توانیم که دامنه گوه و دشت های لم یزروع و بایر، مکان چراگاه حیوانات بوده که باران های فصلی این مکان را خرم و سرسبز و مساعد به چرا می سازد، زمین های آبی وابسته به آب دریاها و زمین های للمی نیز بستگی به بارش برف و باران های فصلی دارد که خشکسالی های اخیر زیان های زیادی را به دهقانان و مالداران ما متحمل نمود و این دهقانان بودند که با امکانات اندک و مصارف گزاف زمین های للمی را شخم زدند و تخم گندم و دیگر حبوبات پاشیدند، اما خشکسالی و عدم بارش برف و باران های فصلی سبب گردید که ساقه های گندم پیش از حاصل دهی، خشک و از بین بروند و زحمت دهقانان ما نیز به هدر رود، همچنان مالداران ما نیز نسبت به خشکسالی های پیهم و عدم علوفه، حیوانات خود را با قیمت ناچیز به فروش رساندند که بارندگی های اخیر، خود گواه بر این است که امسال الحمد الله، حاصلات و محصولات زراعتی بهتر خواهد بود و شادابی و سرسبزی کوه و دمن نیز بستری مناسبی به چراگاه حیوانات.

حالا موضوعی که بعد از بارندگی های پیهم و سنگین ارجحیت دارد، مدیریت آب های کشور است که چگونه این آب ها را مدیریت کنیم تا به کمبود آب در آینده ها مواجه نگردیم.

گرچه یکی از کارهایی که در این سه سال پسین در پهلوی بزرگترین پروژه (کانال آبی قوش تیپه) انجام شده. اعمار چکدم یا ذخیره های کوچک آب است که بدون شک این اقدام هم در خور ستایش است و با ذخیره شدن آب نه تنها که مالداران و دهقانان ما از این آب ها استفاده می کنند، بلکه در تقویت آب های زیرزمینی نیز مؤثر است، اما در میان مدت باید روی سدهای بزرگ آب تمرکز گردد که در آن صورت نه تنها کمبود آب مرفوع می گردد، بل از لحاظ تولیدی برق به خود کفایی خواهیم رسید که بلاشک از پرداخت پول های که برای خرید برق وارداتی هزینه می گردد، صرفه جویی شده و می شود که این پول ها را در ساخت و ساز بندهای برق و بندهای آبگردان هزینه نماییم، زیرا نظر به اعمار کانال آبی قوش تیپه و سرعت کار در این کانال، دیده می شود که ظرفیت، تعهد و اراده جدی در اعمار و احداث دیگر پروژه ها نیز وجود دارد.

بنابرین افغانستان دارای دشت های وسیع و مرغوبی است که اگر این دشت ها آبیاری و مورد استفاده زراعت قرار گیرند، یقیناً که از لحاظ محصولات زراعتی به ویژه غله‌جات به خود کفایی می رسیم، همچنان زمینه‌ی شغل برای شماری زیادی شهروندان کشور نیز مساعد و جلو مهاجرت های اقتصادی به کشورهای همسایه، منطقه و فرامنطقه نیز گرفته خواهد شد. هر چند احتمالاً در ساخت و ساز بندهای بزرگ آب به برخی از موانع، مواجه گردیم و موضوع حقابه ها مطرح گردد، اما این مسأله آنقدر جدی نخواهد بود، زیرا در تمام فصل سال، آب وافر، بدون سنجش به کشورهای همسایه ما سرازیر می گردد؛ موضوعی که سبب نگرانی کشورهای همسایه و منطقه می گردد، خود کفایی افغانستان از لحاظ محصولات زراعتی و دیگر امتعه‌ی تجاری است، زیرا افغانستان در این همه سال های پسین، بازار مناسب برای فروش محصولات زراعتی، عله‌جات و دیگر کالاهای کشورهای همسایه و منطقه بوده است.

بناً اگر آب های افغانستان دقیق مدیریت شود، توان اقتصادی افغانستان در تمام حوزه ها به ویژه حوزه زراعت افزایش چشمگیر خواهد یافت، چون افغانستان باداشتن زمین های مرغوب، حاصلخیز و شرایط جغرافیایی، آب و هوای مناسب، می تواند تأمین کننده‌ی، بسیاری از اقلام زراعتی نه تنها به خود، بلکه به منطقه نیز باشد.

اگر بر اساس یک پالیسی درست، دقیق و عادلانه اقتصادی پیش برویم، با بهره برداری کانال قوش تیپه و زیر آب ساختن دشت های وسیع و حاصلخیز در شمال و غرب کشور، افغانستان به تنهایی می تواند گندم مورد ضرورت خود و کشورهای منطقه را نیز تأمین کند و با احداث بندهای برق نیز یکی از کشورهای عمده صادر کننده برق در منطقه مبدل خواهد شد.

ان شاالله

# سمونه څه ده او سمونګر څوک دی؟

**خالد افغان**

سمونه له ټولو سخته چاره ده. ښايي په ډېرو فنونو کې يې زړه خوږيني زياته وي. زه خو يې تر څېړنې هم درونـد کار بولم. دلته زموږ موخه د متن سمونه ده. د سمونې په اړه د کابل پوهنتون استاد پوهنمل عبدالسميع وحدت په خپل کتاب (سمونې لارښود) کې ليکي: (( ټول هغه ادلون بدلون چې د متن په ژبه، منځپانګه، ارقامو، ليکښه او نورو کې راځي او ليکنه چاپ ته تياروي؛ سمونه نومېږي.)) مانا ټول بدلونونه چې د سمونګر په لاس په يوه متن کې رامنځته کېږي او ليکنه لوست او خپراوي ته تياروي؛ سمونه بلل کېږي. زيات وخت فکر کېږي چې ګوندې د سمونګر د يوه متن د ژبې سمونه ده. يعنې سمونګر به د متن په املا، انشا، ليکښو او نورو پسې ګرځي. مه هېروئ چې دا د سمونې يو زون دی او ژبنۍ سمونه يې بولي. په منځپانګيزه سمونه کې موږ د محتوا د سمونې په لټه کې يو. يعنې دا متن چې د هرې علمي موضوع د ارايې په پارکښل شوی، هغه ګورو چې څومره سم او بامفهوم دی.

ايډېټېنګ يوه عمليه ده چې په دې کې د متن ايډېټر يا سمونګر له خوا د متن سهي والی، دقيقوالی، د متن روانوالی او د موضوع اړوند د مطالبو سمول او برابرول شامل دي. په دې پروسه کې ليکوالان، ژورناليستان او نور ځان ډاډه کوي چې ايا د دوی متن د خپراوي وړ دی او که نه؟ مانا متن دقيق، روغ او روڼ دی او که څنګه؟ په کاپي ايډېټېنګ کې ټول هغه خام مواد وړاندې کېږي، چې له پرېنټ وړاندې چمتو شوي وي او له سمون وروسته بيا چاپېږي.

د متن ايډېټ يا تصحيح له دريو برخو تېرېږي:

۱ـ لايټ يا سرسري کتنه: سرسري ايډېټ نه مطلب يوازې د متني تېروتنو سمون دی.

۲: منځنی ايډېټ: دې کې بيا ليک نښې او متني غلطۍ دواړه په نښه کېږي.

۳: ژور/ وروستی ايډېټ: دې کې بيا هم متن، هم ليک نښې ، د جملو تسلسل، د پراګرافونو اړيکې، نومونه، القاب، رتبې او منځپانګه ټول سمېږي

بدبختانه چې سمونې او سمونګر ته زموږ د هېواد په فرهنګي کړيو او ژورنالېزم کې پاملرنه نه کېږي. که نه سمونه تر بل هر قلمي او علمي کار درونـد مسئوليت او دنده ده. تاسو به ليدلي وي، هغه کتابونه چې په سخته لوستل کېږي، مفهوم نه ترې اخيستل کېږي، يا يې ژبه نااشنا او ثقيله وي؛ داسې کتابونه او ليکنې په خپلسري ډول په مطبعو کې چاپ او پر کتاب پلورنځيو پلورل شوي وي. برعکس په همدغو کتابونو کې داسې کتابونه هم شته چې ژبه يې روانه، ساده، رڼه، خوږه او حتی د محصل او د ښوونځيو د زده کوونکو لپاره د پوهاوي وړ وي. ښايي د داسې کتابونو ليکوالان کمزروي وي خو د دغو ليکنو سمونګران حتمي پياوړي او پر ادبياتو پوهه کسان دي.

سمونګر بايد د مسيحا حيثيت ولري، بايد و بايد په ليکنه کې ساه ننباسي او مړ لاش په خوځښت راولي. که سمونګر دغه کار ونه کړ، نو بويا چې په خپله چاره کې نابريالی دی. سمونګر هله د مسيحايي معجزې څښتنېدای شي چې د ژبې پر ګرامر، اصولو او قانونو پوهه ولري. پر دې سربېره سمونګر بايد خپله ليکوال وي او له ادبي ذوقه برخمن وي.

سمونګر ته اړينه ده چې مطالعه يې څو بعدي او د بېلابېلو علومو له ترمينالوژي او ويکبلري سره بلد واوسي. فرض کړئ يو څوک د ديني پوهنو سمونګر دی، ده ته په کار ده چې له ديني حوزې مالومات ولري او پر ټولو ديني مصطلحاتو بر وي. د سمونګر او ليکوال پوله په دغه ځای کې سره جلا کېږي چې ليکوال ښايي په خپله څانګه کې ژوره پوهه ولري، ولې ده ته حتمي نه ده چې په نورو برخو دې هم پوه واوسي او که پوه وي غوړي لا غوړي؛ مګر سمونګر ته اړينه ده چې له خپلې څانګې او علمي حوزې يې يو څه څکه کړې وي. زموږ موخه دا نه ده چې سمونګر دې جامع الکمالات شي. موخه مو دا چې نومورې بايد د علومو له هرې برخې سره حداقل بلدتيا ولري. د بېلګې په ډول دی بايد له ژبپوهنې سره ښه بلد وي، له متنپوهنې اګاهي ولري، ليکوال وي، ادبيات يې د ذوق برخه وي او... .

ځينې وختونه ليکوالان چابک ليکل کوي. دوی دا تمه لري چې ګوندې زموږ تېروتنې سمونګر راسموي. دا سم کار نه دی. ښايي سمونګر له نومورې ليکوال څخه هم ډېره بې پروايي غوره کړي. ليکوال نه بايد له خپلو ليکونو سره سرسري چلند وکړي.

يوه بله تېروتنه چې ډېری وخت مطبعې او کتابپلورنځي يې کوي، هغه څو سمونګران/ ايډېټرانو ته د يوه کتاب سپارل دي. کتاب کې د واحد ليکدود او سبک تعقيب تر ګردو مهمه مسئله ده. کله چې يو کتاب د څو کسانو له لوري کتل کېږي او يا څپرکی ـ څپرکی ورته وېشل کېږي؛ نو هر کس په ورکړل شوي متن کې د خپلې پوهې، ذوق، سبک، ليدتوګي او ليدلوري له مخې سمونه کوي چې دا چاره په يوه اثر کې ګډوډي رامنځته کوي. کله نا کله د پوهنتون استادان د خپل کار د اسانۍ په تکل پنډ کتاب په څو تنو محصلانو ويشي؛ تر څو يې تېروتنې په نښه شي. د محصل تجربه اومه او لا ددې وړ نه وي چې د لويو پوهانو کتابونه تصحيح کړي. بله دا چې د محصلينو ورتيا په يو کچ و مېچ نه وي، حتمي ده چې يوه محصل ته به يو ځای ناسم ښکاري خو بل محصل به همغه ځای سم نيولی وي.

تاسو به ديني، حقوقي او يا هم د اقتصاد کتابونه لوستي وي، دا کتابونه به دوکتورانو او پوهاندانو ليکلي وي؛ خو له څو ځله لوست وروسته به هم ترې مفهوم نه شئ اخيستلی. پوهېږئ د دې ربړې جرړه چېرته ده!؟ لومړی دا چې بدبختانه موږ داسې انګېرلي چې يوازې د ادبياتو د پوهنځي متخصصين او څانګوال به ضرور هم ليکوال، شاعر، ژباړن، سمونګر او.. . وي. نا، تاسو ته به مالومات وي، په ګاونډيو ژبو او نړۍ کې په ادبياتو کې د نورو څانګوالو متخصصين ښه پوهېږي. زموږ د نورو پوهنځيو لوستوال اصلاً د دې هڅه نه کوي چې د ليکوالۍ او ژباړې مشق وکړي. دوی رنده ژباړه کوي. يو خو دا چې دا متون اصلا د دوی د ذهن راوتي نه دي، ډېری يې ژباړې دي، بيا چې ژباړه وژباړل شي او پر ژبه هم برلاسی نه يې نو ته والله په متن کې به څه شخوند و خوند پاتې شي. زموږ د نورو څانګو محصلينو او استادانو ته بويه چې لږ لږ د ادبياتو نړۍ ته هم سر ورښکاره کړي او د ژبې پر اصولو او ګرامر ځانونه پوه کړي.

د سمونګر په ځانګړونو کې تر ټولو لويه خوبي غوڅتيا او پرېکنده پرېکړه ده. تاسو به کتلي وي چې ځينې سمونګران د متن په بعضو برخو کې زړه نا زړه وي او يا هم د پرېکړې زړه نه شي کولی. داسې سمونګر دې پوه شي چې دوی به په خپله برخه کې د پرمختګ لوړې پوړۍ هېڅکله ونه وهي. سمونګر بايد ډارن نه وي او د زمري زړه ولري.

د نړۍ لويې رسنۍ او د پرکاره ليکوالان څو تنه سمونګران لري، د دوی ليکنه په هېڅ صورت د دوی له کتو او اجازې پرته نه خپرېږي. هېڅ ليکوال دا دعوه نه شي کولی چې زما ليکنه سمه ده او سمونګر ته يې د کتنې په پار اړتيا نه‌شته. د متن سمونه کې دقت، د حواسو بيداري او ځيرکتيا حتمي ده. د سمونګر حواس بايد تر نورو انسانانو تېز او زوم وي. که غواړئ چې خپل اثر چاپ کړئ، يو ځل يې د يو چا له نظره تېروئ. ريښتيا هم خپل عيب د ولو منځ وي او بيا خو په خپله ليکنه سړی هر وخت ډاډه وي؛ خو چې د يوه تجربه ناک سمونګر تر قلم تېره شي؛ بيا د سړي ماغزه سر ته راشي.

# صحابه کرام او زموږ ننني مسوولیت

**عبدالرحيم راشد**

د دې ځمکې پر مخ صحابه کرام هغه هستۍ وې، چې ټول کارونه او کړنې يې يعنې جګړه، سوله، خوشحالي، خپګان، ورکړه، اخيستنه، خپلوي او اړيکې پرې کول يې يواځې د الله تعالی د دستور او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سنتو مطابق ول.دا چې دوی د الله تعالی او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم اوامرو ته تل غاړه ايښې وه او له نواهيو يې جدي پرهېز کړی و، نو ځکه مهربان څښتن عزوجل دنيوي او اخروي خوشحاله ژوندون، بريا، نېکمرغي او سرلوړي ور په برخه کړه.صحابه کرام رضوان الله تعالی اجمعين په الهي نعمت هغه نازول شوي شخصيتونه وو، کله چې د اسلام په مبارک دين مشرف شول، د خپل پلرونو، نېکونو او قوم هغه غلط رواجونه يې په مکمله توګه ترک کړل او هېڅکله يې د هغه ناوړو رسمونو خواته بيا نظر هم نه دی اړولی، ځکه دوی ته دا روښانه شوه، چې اسلام د تورې تيارې له ژونده بل ښکلې او منور ژوند ته تلل دي، د جهالت له حکم څخه د پوهې حکم ته کډه کول دي، د ملک الطوائفۍ څخه د يو واک منل دي، له جګړې لاس اخيستل او د سولې په جونګړه کې دمه کول دي، له سرکشۍ څخه د بنده ګۍ منل دي او د بت پرستۍ قانون څخه د الهي قانون عملي کول دي، چې دا ستر – ستر بدلونونه د اسلام له منلو وروسته دوی کې راغلل.زما پيغام تاسو ته دا دی، چې خپل ظاهر او باطن د اسلام اوامرو ته چمتو کړئ او له نواهيو داسې ځان وساتئ لکه د اور له لمبو څخه ځکه ګناهونه په حقيقت کې د اور سکروټې دي.خپل ايمان او عقيدې مو قوي کړئ، په الله سبحانه وتعالی، د قيامت په ورځ او د اسلام په افضليت پوره باور ولرئ، څنګه چې د څلورو لسيزو وروسته زموږ ګران هېواد د بې شمېره سرښندونو وروسته د امن او سولې کور وګرځېد، نو د دې خاورې د آبادۍ لپاره لاسونه سره يو کړئ او په يو موټي کېدو سره دا باغچه د مېوه لرونکو ونو لوی ښکلی بڼ وګرځوئ.دا زموږ او ستاسو مسؤليت دی، چې ستونزمن او مهم کارونو پر مخ يوسو او د فساد رېښه د ځمکې له مخ څخه ورکه کړو، چې دا هر څه د لاس او پښو په تناکو کېږي. د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرام رضي الله عنهم همداسې وو، کله چې يې د مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت وکړ، بس په هماغه سهار لاس په کار شول د مسجد څخه يې نيولې د اوسېدو کورونه او بازار کې دوکانونه يې په خپلو متو جوړ کړل او د خپل وطن څخه يې داسې دفاع کوله چې له ځان او مال څخه به تېر وو او د هېواد امن، ښېرازي او خوښي يې خپله لازمي وجيبه بللې وه، چې په برکت سره يې الله تعالی د دې مظلومو صحابه کرامو په زنګ وهل شويو تورو، کمزورو آسونو او څېرې – څېرې زغرو ټوله جزيرة العرب د دوی تر واک لاندې راوستل او د پراخو شتمنيو څښتنان يې کړل، چې دا يواځې په الله تعالی ټينګ باور، مخلوقاتو ته نفع رسول او خپلې وجيبې ته مستقيم او پابنده درېدلو لامل وو، چې تل به کفار ورته سر ټيټې او د عجز په حالت کې خم وو.او دا خبره هم ذهن کې محفوظه کړئ، کله چې الله تعالی په خپلو بنده ګانو يو نعمت ولوروي، نو بيا دوی په شکر سره آزمايي، چې آيا زما لوري ته رجوع کوي او که دا هر څه خپل کمال بولي، زيات وختونه لوی – لوی نعمتونه د ناشکرۍ له امله بېرته اخيستل شوي وي.مسلمان بايد هېڅکله غافله نه شي او تل اړوند الهي انعامات له ځان سره محاسبه کړي او شکر يې ادا کړي.او که تاريخ ته ځير شو، اسلامي نړۍ هغه مهال په فساد کې ډوبه شوه چې مسلمانانو د رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو له کړنو څخه مخ واړوه او غربي کړنلارې يې خپل د ژوند مسير وټاکل. او دا څرګند حقيقت دی، چې عزت، بريا، سرلوړي، خوښي، امن او پرمختګ يواځې په اسلام کې نغښتې دي، نو لوی رب عزوجل دې موږ په حقيقي معنی مسلمانان جوړ کړي.

# امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله د امت د امامانو په نظر!

حشمت میاخیل

امام دار الهجرة امام مالک رحمه الله چې په (١٧٩هـ) کې وفات شوی ویلي: مانه د امام ابو حنیفه رحمه الله په اړه پوښتنه وشوه، ما ورته په ځواب وویل: هغه مې داسې شخصیت وموند چې که چېرې ووایي دغه ستن د سروزرو ده، کولای شي د خپل استدلال په قوت سره هغه ستن طلا ثابته کړي.(مناقب الإمام أبي حنيفة لابن حجر الهيتمي).

قاضي القضات امام ابو یوسف رحمه الله چې په (١٨٢هـ) کې وفات شوی ویلي: خلکو به ویل چې : الله (جل جلاله) د امام ابو حنیفه رحمه الله شخصیت په علم، سخاوت، ایسار او قرآني اخلاقو مزین کړي دي.(ابوحنيفة النعمان إمام الأئمة الفقهاء للشيخ وهبي سليمان غاوجي).

أمیر المؤمنین في الحدیث امام سفیان ثوری رحمه الله چې په (١٦١هـ) کې وفات شوی ویلي:زما سترګو د امام ابوحنیفه رحمه الله نظیر نه دی لیدلی. (ایضاً).

امام شافعي رحمه الله چې په (٢٠٤هـ) کې وفات شوی ویلي:هر څوک چې د فقهې د زده کړې په نیت له کوره راوتلي د امام ابو حنیفه رحمه الله د علم له دسترخوان څخه یې ګټه اخیستې (ایضاً).

امام احمد بن حنبل رحمه الله چې په (٢٤١هـ) کې وفات شوی ویلي: ابوحنیفه رحمه الله په علم، تقوی، زهد او د آخرت په غوره کولو کې هغه مقام لري چې هېڅوک ورته نشي رسېدلای، هغه یې په درو ووهل ترڅو منصور ته نږدې شي، مګر هغه ونه منل د الله (جل جلاله) رحمت دې پرې وي او ترې راضي دې شي.(ایضاً).

# د هیلو څرک

صابر

د سهار لمر څرک وهلی و د لمر وړانګې ښکارېدې او لمر لا نه و راختلی،فضا صافه وه د ژمي سړې هوا او یخنۍ مې اندامونه رپول د داسې سیمې میلمه وم،چې غرونو پرې احاطه کړې وه د غرونو په سرو واورو سپین شال غوړولی و او زه هم د غرونو د حلقې په منځ کې د لښتي په غاړه د پراته کمرۀ په سر کیناستم غوښتل مې چې له ځان سره خبرې وکړم سترګې مې شاوخوا وغړولې او د خزان انځور مې مشاهده کړ ما سترګې په بل نیت غړولې وې خو فکر مې د خزان یوۀ عجیب او ښکلي انځور له ځانه سره یووړ،خزان زما په فکر کې بل قسم انځور و زما په فکر کې د خزان تصویر داسې و چې خزان بدرنګ دی، خزان په زړه سخت دی، خزان د ښکلا دښمن دی، خزان لوږه ده، یخني ده او ظالم دی د نباتاتو لپاره مرګ دی او نباتات هغه څه دي چې د باقي نورو ژاکښو ژوند پورې تړلی دی، په خیال کې مې د خزان بدرنګ انځور خپل فکر نه و،بلکې د پردي تقلید او تأثر اثرات ۇ د شاعرانو په شعرونو او نظمونو کې مو لیدلی و،چې هغوی به تل خزان غندلی او د بهار ستاینې به یې کولې ما له ځان سره د خبرو کومه موضوع چې ټاکلې وه او له ځانه مې کومې پوښتنې چې په ذهن کې درلودې هغه هیرې شوې او د خزان د ښکلا په تماشه شوم، په خزان کې واورې او بارانونه د نورو فصلونو په نسبت زیاد اورېږي د ځمکې حرارت د ځمکې له سر څخه د ځمکې ګېډې ته ننوځي د حرارت په تبدیلۍ سره د ځمکې سر سوړ او تل یې ګرم پاتې کېږي او د هوا حرارت هم په خزان کې راټیټېږي ځمکې ته را لویدلې واوره د سړې ځمکې او سړې هوا تر منځ رو رو ویلې کېږي په ځمکه کې د یخنۍ له وجهې درزونه پیدا کېږي او په ځمکه کې د اوبو د جزبولو قوه زیاتېږي په همدې ترتیب د ځمکې د تل اوبه راپورته کېږي د ژمي په تیرېدو سره د غرونو د سرو واورې رو رو ویلې کېږي لښتي، نهرونه او بیا سیندونه ترې جوړېږي همدا سیندونه هوارو ځمکو ته ځان رسوي ځمکې خړوبوي دښتي،غرونه او للمې سمسوروي د ځمکو په خړوبېدو سره فصلونه وده کوي او له حاصلاتو یې انسانان، حیوانان، مرغان خزندې او د الله تعالی نور مخلوقات تغذیه کېږي، د فصلونو وظیفوي ترکیب ته چې کتل کېږي خزان په کې د مور رول لوبوي په ځان سختۍ تېروي خو نورو فصلونو ته ښکلا، ګلان، میوې او د غنمو دانې وربښي، د انسان د ژوند فصلونه هم کټ مټ همداسې دي د انسانانو د ژوند فصلونه ماشومتوب، ځوانۍ کړاوونه او پېري هم همداسې مثالونه دي، په افغانانو هم تېر څلویښت کلن انقلاب د خزان په څېر تېر شو ژوند یې له یخنیو او سختیو ډک ۇ په میلیونونو شهیدان شول، کورونه یې وران شول، ځمکې یې شاړې شوې، نورو هېوادو ته مهاجر شول خو انقلاب افغانانو ته داسې څه ورکړل چې د نړۍ ډېر هېوادونه او ولسونه ترې بې برخې دي استقلال، شرعي قانون، ژمن اسلامي نظام او امنیت هغه څه دي چې د نړۍ ډېری ولسونه ترې بې برخې دي موږ ته انقلابونو د خزان په څېر له یوه پلوه که کړاوونه راکړي له بل پلو یې ډېر د ښه راتلونکي چانسونه هم راکړي،لکه څنګه چې خزان نورو فصلونو او هوارو ځمکو ته اوبه ورکوي همدا اوبه او ځمکې یوه متور او ځیرک دهقان ته ضرورت لري تر څو له اوبو او ځمکې څخه په ښې استفادې کولو سره د کال غوره حاصلات تر لاسه کړي،زموږ په هېواد د تیر شوي خزان وروسته غوړېدلی بهار هم یوه مدبر ځیرک او خادم حاکمیت ته ضرورت لري اوسنی حاکم نظام باید د ولس او هېواد هر درد او زخم ته درمل شي، په هېواد کې د ژبني او سمتي تعصوبونه د ورکولو لپاره باید جدي هڅې وشي، د جهل تورې تیارې د علم په رڼو وړانګو روښانه شي، له صحې لحاظ د ګاونډیو له احتیاج د خلاصون هڅې باید ګړندۍ شي، ا.ا.ا باید ولس ته د ښو خدمتونو په وړاندې کولو سره د نظام بقا، د امنیت ټینګښت او روښانه راتلونکی تضمین کړي.د ښاد او اباد افغانستان په هیله

# د ځوان نسل بې لاریتوب ته د کفارو خاصه پاملرنه!

حسان مجاهد

د اسلام مقدس دین د نفاذ، دفاع، نشر او خدمت لپاره تر ټولو ځواکمنه او وفاداره طبقه ځوان نسل ده؛ ځکه الله تعالی په هره زمانه کې د بندګانو د هدایت په موخه خپل خاص بندګان (پیغمبران) د ځوانۍ په عمر مبعوث کړي ؛ نبي کریم صلی الله علیه وسلم د یوې جګړې قومنده تر ټولو کشر صحابي ته وسپارله؛ د نړۍ هر کونج ته اسلام د ځوانانو په سربښندونو رسیدلی دی؛ د اسلام ستر ستر فاتحین لکه: خالد بن ولید، علي ابن ابي طالب، حسن، حسین، زبیر بن عوام، طارق بن زیاد، محمد ابن قاسم ، قتیبه بن مسلم، یوسف بن تاشفین، موسی بن نصیر او داسې نور ټول ځوانان وو؛ الله تعالی د کهف د زلمیانو(چې د باطلې عقیدې په خلاف ودرېدل) توصیف په داسې توګه کوي:

«انهم فتية امنوا بربهم وزدنهم هدى» یقیناً دوی ځوانان و، په رب یې ایمان درلود او موږ دوی ته هدایت زیات کړ.
ابن کثیر د دې آیت په تفسیر کې وایي: په اسلامي معاشره کې چې کوم اولیاء کرام تېر شوي ؛ اکثره یې ځوانان وو.

په دې اساس ویلی شو، چې کفار تر بل هر چا له ځوان نسل څخه خپل خطر احساسوي، دوی پوه دي چې یوازې دوی کولای شي، د خپل دین د دفاع په خاطر زموږ ملا راماته کړي او د دوی پر مټ د دې امکان شته، چې د اسلام مبین دین دې زموږ تر پولې په چټکۍ سره راورسېږي؛ نو ځکه کفارو د ځوانانو بې لاریتوب ته خاصه پاملرنه کړې ده؛ د دې کار لپاره میلیاردونه مصارف کوي؛ شپه ورځ له ممکنو او غیر ممکنو لارو نه کوښښ کوي، چې په څه ډول ځوان نسل بې لارې کړي، د مقاومت روحیه ترې سلب کړي، د عیاشۍ او فحشا په لومو کې یې ښکېل کړي، په خپل اسلامي تمدن یې بې باوره کړي او د خپل کلتور او تهذیب لارویان یې وګرځوي.

په لاندې کرښو کې د نمونې په توګه د هغه اسبابو یادونه کوو؛ چې له مخې یې کفار غواړي، ځوان نسل بې لارې کړي:

**١_ فحشا، عریاني، لوبې او فیشن.**

د شک خبره نه ده، چې د یهودي (سارتر) او د هغه د انډیوالې(سیمون دی بو فوار) فکر(چې د پردي سړي او پردۍ ښځې پټ جنسي اړیکې او د انډیوالۍ فکر دی) ډېر ژر د ارادې له مخې له خپل هېواد څخه ختیځې اسلامي نړۍ ته صادر شو.

په دې خبره رسېدل کوم ژور فکر نه غواړي، چې د آزاد خیالۍ او بې بندو بارۍ فکر د دې لپاره منځ ته راغی، چې هغو اسلامي هېوادونو ته(چې مشران یې د صلیبیانو سره په دسیسو کې یو لاس دي) صادر شي ترڅو چې د ځوانانو په زړونو کې د اسلام روح مړ شي او د جنسي غریزو او نورو فسادونو په دریاب کې ډوب شي، په نتیجه کې د اسلام او د اسلام په شان او دبدبې د را اوچتولو او جهاد څخه مخونه واړوي؛ ځکه هغه زړونه چې په جنسي غریزو مشغول او د لهو لعب اور پکې لمبې وهي، هېڅکله ممکنه نه ده چې د جهاد ستړیاوو ته دې تیار شي.

دا اور یوازې ځوان هلکان نه سوځوي، بلکې ښځو او نجونو ته یې هم لمبې رسېدونکې دي«رسیدلې دي» او په دې برخه کې له زیاتو وسایلو څخه کار اخلي، چې عمده وسایل یې رادیو، تلویزیون، سینما، ورځپاڼې، مجلې او د کیسو کتابونه دي؛ زیاتې کیسې د جنسي مسایلو په هکله وي، آن تر دې چې کله ناکله د جنسي مسایلو اجراء د فلمونو په واسطه په ډاګه ښوول کېږي.

له ریاض څخه خپرېدونکې «الدعوة» نومې مجلې د ١٣٩٨ کال په ٦٣٣ ګڼه د محرم په میاشت کې (د اسلام دفاع به څوک وکړي؟) عنوان لاندې لیکي: «ځوانان مو د اخلاقو د فساد او ورانولۍ وژغورئ! ځکه هغه مرکزونه چې د ځوانانو د تفریحي پروګرامونو په نامه جوړ شوي ، هغه د اخلاقو فاسدولو مرکزونه دي؛ ځکه د شپې له خوا په کې داسې فلمونه ښودل کېږي، چې روغ عقل هېڅکله دا نه شي منلی چې د عربستان سعودي په شان یو مملکت کې(چې ځان د اسلام مرکز ګڼي او ځوانان یې باید په اسلام مین او د اسلام مجاهدین وي)دا ډول فلم وښودل شي. هغه ورستنی د(ګرمو پیغلو) په نامه رنګه امریکایي فلم، چې په ریاض کې د ځوانانو د سپورت په یو مرکز کې په (١٣٩٨/١٢/٢١ ه ش) د پنجشنبې په شپه وښودل شو؛ دا فلم هومره پریوتی فلم و، چې د سالم عقل خاوند نه شي کولای چې د فلم کیسه تشریح کړي، خالص جنسي فلم و، چې د سړي او ښځې جنسي اړیکې یې بالکل لوڅ ښوولي و، له همدې امله چې مراجعین یې زیات و، نو د یو ټکټ قیمت یې سل ریالو ته پورته لاړ.»

د سریالونو ستر هدف دادی تر څو په خلکو کې خصوصا په ځوانانو او نجونو کې شهوت خپور کړي او دوی د شهوت پرستۍ باندې وروزل شي او د حیاء او غیرت جذبه یې ختمه کړي.

لکه د نصرانیت یو مبلغ چې خپلو ملګرو ته یې د بیان په یوه برخه کې وویل: «موږ د مسلمانانو داسې نسل چمتو کړی ، چې استعمار د هغه په انتظار کې دی، داسې نسل چې د سختۍ په وړاندې مقابله نه شي کولای، بې پروا، راحت طلبه او تمبل نسل ده، که چېرې کوم لوړ مقام تر لاسه کړي د عیش او شهوت پرستۍ له امله کومه د ځوانمردۍ سخا نه لري.

یو بقال چې د کابل له منډوي څخه کمپلې وړي او بیا یې په اطرافي کلیو او قریه جاتو کې خرڅوي، له هغه څخه چا پوښتنه وکړه چې په دغه کار کې ستا څه ګټه ده؟
بقال وویل: په دې کار کې زما دومره ګټه نشته، مګر زه د دې کار ترڅنګ بل کار ترسره کوم، په هغه کې زما زیاته ګټه ده.
بقال وویل: په ٥٠ یا ١٠٠ افغانۍ د موبایل میموري (حافظه) اخلم بیا هغه له جنسي فلمونو ډکوم او بیا دا میموري هره یوه په ١٠٠٠ افغانۍ په نجونو او پیغلو خرڅوم او دوی له ما څخه زیاتې خوښې دي. دا کیسه پرون د جومات ملا راته وکړه، هغه ته په منډوي کې یو عمده فروش کړې وه او تاسې سره مې ځکه شریکه کړه؛ چې له دې پټو بلاوو څخه خبر شئ!

**٢_ مسیحیت ته د دعوت او له خپل دین څخه د انحراف له لارې:**

دا یو منل شوی حقیقت دی، چې د تعلیم په میدان کې مسیحیانو ډېر فعالیتونه کړي دي او کوي یې، د مکتبونو څخه نیولې تر پوهنتونونو پورې تحصیلي مؤسسې یې په کار اچولې دي؛ تر څو د مسلمانانو ځوانان او نوی نسل بې لارې کړي او د خپل باطل دین زهر ورته پیچکاري کړي.

په حیدر اباد کې( د قدیس ماري مدرسه) مؤلف لیکي چې پدې مدرسو کې ډېر زیات مسلمانان ماشومان درس وایي، چې پدې مدرسو کې ورته د شپې د پاتې کیدولو ځایونه، د تفریح کلپونه، د نجونو او هلکانو لپاره د ګډ او سیدو زمینه مساعده ول، د متعلمینو په منځ کې د نصراني کتابونو ویشل او د نصراني کولو لپاره په کې مختلفې لارې په کار اچول کېږي.

(جون موت) مبشر وایي: « موږ ته لازمه ده؛ چې د تبشیر په ټولو ډګرونو کې د ماشومانو په اړخ کې په کار کولو کې پوره زیار وباسو او هغوی په اسلامي هېوادونو کې د خپل کار او فعالیت ستنې وګرځوو؛ ځکه چې د اسلام فساد خپرونکي اغیزه د همغه ماشوموالي څخه پیلېږي، له همدې امله لازمه ده چې واړه ماشومان د غټوالي نه مخکې او مخکې د دې نه چې طبیعت یې اسلامي څیره خپله کړي د مسیحیت لور ته په راګوځولو اداره کړو!»

له یاده دې نه وي وتلې؛ چې دا پریکړې په هغه پلانونو کې هم شاملې دي چې د انګلستان د مستعمرآتو د وزارت لخوا خپاره شویدي. لکه:

١- د نارینه او ښځو لپاره ګډ هستوګنځې (هاستلونه) جوړول او په ځانګړي ډول د زده کوونکو لپاره.
٢- د ورزشي کلپونو جوړول تر څو د ځوانانو لپاره د خوشحالۍ او ساعت تیرۍ ځایونه وي.
٣- د نارینه وو ښځو لپاره مخلوطه او ګډه زده کړه.
٤- نویو او کوچنیو ماشومانو ته پاملرنه کول او د واده په مسایلو یې غور کول.

مأ خذونه: (جنسي فلمونه، سریالونه او موسیقي ص ٤٨ ) اسلامي نړۍ نن سبا ص ٣٦/ ٤٦
(تبشیر) د قاري صفي الله کوتوال لیکنه

# عالم ستا د دین او دنیا د سمون سبب دی!

سیدیحی(عمر)

عالم هغه سپېڅلې کلمه ده چې هر څوک د دې عظیمې کلمې مصداق نشي جوړېدلای ، مګر هغه چې الله جل جلاله ورته د خیر اراده کړې وي.

پام ! تا ته وایم : په عالم ، مولوي ، امام او شیخ پسې له خولې نا مناسبه الفاظ و نه باسې او نه هم ورته په سپک نظر وګورې، تل یې احترام کوه او په وقار ورته قائل شه ، ځکه :

- عالم د هغه ذات صفت دی چې زما ، ستا او ټولو موجوداتو خالق او مالک دی .
- عالم هغه څوک دی چې ستا د پیدایښت سره سم په غوږ کې اذان درته کوي .
- عالم هغه څوک دی چې تا ته له داسې یوې ښځې سره چې مخکې دې صرف یو نظر کتل ورته حرام او ناروا وو ، د الله ج د مبارک دین د لارښونو په رڼا کې د نکاح تړون تړي .
- عالم هغه څوک دی چې د پنځه وخته لمونځونو امامت دې کوي .
- عالم هغه څوک دی چې امر په معروفو درته کوي او نهې له منکرو څخه.
- عالم هغه څوک دی چې په دیني او دنیوي امورو کې مو د رهنمایۍ مرجع ده .
- عالم هغه څوک دی چې له دنیا څخه ستا د تګ پر مهال د جنازې لمونځ اداء کوي.
- عالم دی چې د هر فرضي لمونځ امامت دې کوي او تاپسې اقتداء کړې وي.
- عالم هغه څوک دی چې محمد(صل الله علیه وسلم )ورته د پیغمبرانو (علیهم السلام) وارث او جاینشین ویلی دی ، پیغمبر صل الله علیه وسلم فرمایي ( العلماء ورثة الأنبياء ) علماء د انبیاوو (علیهم السلام) وارثان دی.
- عالم د بندګانو له جملې د الله جل جلاله څخه تر ټولو ډېر ویرېدونکی دی، ځکه الله جل جلاله فرمایي:ژباړه: د الله د بندګانو څخه یوازې عالمان دي چې له هغه څخه وېرېږي.
- عالم هغه څوک دی چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د سیرت او د صحابه کرامو او خلفاء راشدینو په لارښوونو باندې خپله هم عمل کوي او تاته یې هم د کولو لارښوونه کوي، له نویو رامنځ ته شویو مسائلو او بدعتونو څخه ځان ساتي او هم تاته ترې د ځان ساتلو امر کوي.
-عالم هغه څوک دی چې په اړه یې حدیث شریف کې داسې راځي: ژباړه: له ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د عالم فضیلت په عبادت کوونکي باندې داسې دی لکه زما فضیلت ستاسې په ادنی کس باندې . » بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه خدای جل جلاله او د هغه پرښتې او د اسمانونو او ځمکې اوسېدونکي حتی میږیان په سوري کې او حتی ماهیان د خلکو په ښوونکي درود وایي. ترمذي روایت کړی ، او حسن یې بللی دی.

دې ته ورته ډېر فضائل او بهتري لري چې په همدې پورتنیو څو جملو بسنه کوم .

# د حنفي مذهب دریم امام څوک و؟

**لطف الرحمن قمري**

حنفي مذهب دامت لخوا منل شوی مذهب دی، او په نړۍ کې تر ټولو پخوانی بلل کېږي.

د دې مذهـــب اهمیت دا دی چې دا یوازې د امام ابوحنیفه رحمه الله اقوال نه دي، بلکې د اصحابو اقوال هم دي. حنفي مذهب له نورو مذهبونو څخه ځکه غوره شـــمېرل کېږي چې په اسلامي فقه کې یې د مســـائلو د تدوین او فصلونو په ترتیب کولو سره ډېره کټه درلوده، ځکه چې امام ابوحنیفه رحمه الله لومړنی کس ګڼل کېږي چې د شـــریعت علم یې لیکلی او په فصلونو کې یې ترتیب کړی دی. مالـــک بن انس د موطا په ترتیبولو کې له امام ابوحنیفه رحمه الله څخه مخکې نه و، ځکه چې صحابه کرامو او تابعینو د شرعي احکامـــو په علم کې نه طبقه بندي کړې وه او نه یې منظم کتابونه، بلکې په قوت یې د حافظې تکیه کوله.

کله چې امام ابوحنیفه رحمه الله د علم خپرېدل ولیدل نو ووېرېدو چې وروســـته خلک به دا ضایع کړي، نو هغه یې ولیکل، فصلونه یـــې جوړ کړل او کتابونه یې ترتیب کړل، پیل یې په طهارت، بیا په لمانځه، بیا په نورو اعمالو سره. عبادت، بیا معاملې، بیا یې کتاب په میراث ســـره پای ته ورساوه، دا هغه مسئله ده چې له ده وروسته فقهاوو منلې ده.

نو له ده وروســـته دده ملګرو او شاګردانو هم همدا کار وکړو خپل رأیې او نظریات یې ولیکل او هغه یې نشر کړل چې د هغو له جملې څخه یې ابو یوسف او محمد ابن حسن الشیباني ډېر مشهور و.

محمد ابن حسن الشیباني څوک و؟

نوم یې محمد او د پلار نوم یې الحســـن دی او د نیکه نوم یې فرقد دی، پـــه اصل کې امام محمد رحمه اللـــه دالجزیرې دی او د قوم په لحاظ دبني شـــیبان له قبلې سره تړاو لري،نو له همدې امله ورته الشیباني وایي.

پلار یې د حکومتي دندې پراســـاس شام ته کډه کړې وه، کله به د حرســـتا په کلي کې اوسېده او کله د فلسطین په یوه کلي کې، کله چې امام محمد د واسط په منطقه کې دنیا ته سترګې وغړولې، پلار یـــې کوفې ته خپل کور منتقل کړ، له همـــدې امله امام محمد بن الحسن الشـــیباني رحمة الله علیه په کوفه کې رالوی شو او خپله دیني زده کړه یې هم په کوفه کې پیل کړه او په تفسیر، حدیث، علم فقه او په علم لغت کې لوی امام او مجتهد او د اسلامي تهذیب او تمدن ستر نابغه او مخکښ شو.

امام محمد بن الحسن الشـــیباني رحمه الله چې د امام ابوحنیفه رحمه الله د مشـــهورو شـــاګردانو څخه دی او د حنفي مذهب د مشـــهورو علماوو څخه بلل کېږي په خپل عصـــر کې د حدیثو د ډېرو سترو حافظانو څخه حدیث اورېدلي او په حدیثو او آثارو کې یې ډېر کتابونه تالیف کـــړي او په دې فن کې امام بلل کېږي. امام محمد رحمه الله د حدیثو او روایت د اکابرو امامانو په نزد معتمد او ثقه دی. نو ځکه امام شافعي رحمه الله غوندي ستر امام په خپل مشـــهور کتاب (الام) کې د ده په روایت شـــویو احادیثو استدلال کړی او په دغه برخه کې یې نوموړی په صدق متصف کړی دی.

مشهور محدث حافظ ابن حجر رحمه الله وایي چې د امام شافعي رحمه الله په مسند کې له ده څخه نقل کړي روایات موجود دي.

او حافظ ذهبي رحمه الله په المناقب کې لیکي چې امام دارقطني رحمـــه الله فرمایي: محمد زما په نزد د دې مســـتحق نه دی چې پرېښول شي.

او امـــام دارقطني رحمه الله خپله پـــه (غرائب مالک) کتاب کې لیکي چې: هغه د حدیثـــو د ثقه حافظانو څخه دی او امام زیلعي رحمه الله هم دا قول په خپل تخریج کې نقل کړی دی.

عبدالله بن علي بن المدني رحمه الله د خپل پلار (علي بن مدني رح) څخه نقل کـــړي چې امام محمد رحمه اللـــه په حدیثو کې صدوق دی.

د یادونې وړ ده چې علي بـــن مدني رحمه الله د اکابرو محدثینو څخه دی او د امام بخاري مشـــهور اســـتاذ دی چې د ده د صدق شاهدي اداء کوي.

امـــام ابوداود رحمـــه الله فرمایي چې امام محمـــد رحمه الله د پرېښودلو مستحق نه دی .

او امـــام ذهبي رحمه الله په میزان الاعتـــدال کې لیکي چې: امام محمد بن حسن د علم او فقه بحر وو او د امام مالک په اړه قوي وو.

د جرحې او تعدیل مشـــهور امام او محدث یحی بن معین رحمه الله فرمایلي دي: زموږ ملګري (محدثین) د امام ابوحنیفه او د هغه د ملګرو په اړه افراط کوي.او علامه جمال الدین قاســـمي السلفي صاحب وایي: یقیناً د صحاح الروایت ارباب د اهل الرأی (فقهاوو) څخه څنګ کوي، نژدې نه ده چې تاسو به د صحاحو، مسانیدو او سننو په کتابونو کې د هغوی نوم ووینی لکه امام ابویوسف او امام محمد بن الحســـن. اهل حدیثو هغوی لین بللي دي لکه په میزان الاعتدال کې چې یې تاســـو وینئ. زما دې قســـم وي چې هغوی د دوی دواړو پـــه اړه انصاف نه دی کـــړی، هغوی ډک بحرونه وه، د هغوی آثار د هغوی د پراخ علمیت او تبحر شـــاهدي اداء کوي بلکې د حدیثو تر ډېرو حافظانو یـــې مقدم کوي، په دې اړه د امام ابویوســـف رحمه الله کتاب الخـــراج او د امام محمد رحمه الله موطاء درته کفایت کوي.

لـــه ابو حنیفه رحمه الله څخه یې یو څـــه فقه زده کړي او د قاضي ابو یوسف په لاس کې یې فقه بشـــپړه کړې او له سفیان الثوري او الاوزاعـــي څخه یې زده کړې کـــړي او د مالک بن انس رحمه الله څخه یې په مدینه کې فقه زده کړې ده.

امام محمد رحمه الله د نړیوال بین المللي قانون بنسټګر دی هغه د جګـــړې احکام ولیکل او هغه د امـــام ابوحنیفه رحمه الله اقوال ولیکل په شـــپږو کتابونو کې الجامع الکبیر، ال. –جامع الصغیر، السیر الکبیر، السیر الصغیر، المبسوط اوالزیادات.

شاګردان:

د امـــام محمد رحمة الله علیه شـــاګردان هم ډېر زیات دي چې د ټولو ذکر کول په لنډه مقاله کې ســـتونزمن کار دی چې یو څو یې په دې ډول دي:

اول: صاحب مذهب ســـتر امـــام ابو عبدالله محمـــد بن ادریس الشافعي رحمة الله علیه.

دوهم: لوی مجتهد قاسم بن سلام الهروي رحمة الله علیه .

دریم: محمد بن سماعة التمیمي رحمة الله علیه.

څلورم: د مالکي مذهب مدون اســـد بن الفرات القیرواني رحمة الله علیه.

پنځم: د جرحې او تعدیل امام یحی بن معین الغطفاني رحمة الله علیه.

شـــپږم: د امام محمد د کیســـاني روایاتو راوي شعیب بن سلیمان الکیساني رحمة الله علیه.

اوم: د جرجاني روایاتو راوي: علي بن صالح الجرجاني رحمة الله علیه.

اتم: د نوادرو راوي: ابوبکر ابراهیم بن رستم رحمة الله علیه.

نهـــم:د امام بخاري اســـتاد ابـــو زکریا یحی بن صالـــح الوعاظي الحمصي.

لسم: ابو موسی عیسی بن ابان البصري رحمة الله علیه.

یوولســـم: ابن ســـحنون د مالکي مذهب مدون او داســـې نور...

رحمهم الله تعالی اجمعین

# راته ووایه چې څومره وخت شاتګ غواړې؟

**زاهد الله نایل**

اســـلامي مفکر دکتور محمد عماره وایي:

پـــه یـــو مجلـــس کـــې د یـــو ســـیکولر ډولـــه ســـړي راتـــه پـــام شـــو او د ملنډو پـــه ډول یـــې راتـــه وویـــل: ســـتا لـــه لیکنـــو پـــه دې پـــوه شـــوی یـــم چـــې تـــه د شـــرعي احکامـــو پلـــي کېـــدل غـــواړې او زړه دې دی چـــې مـــوږ بېرتـــه پـــه شـــا لاړ شـــو؟

نو ما هم د پوښـــتنې په توګه ځواب ورکړ:

ایـــا تـــه هغـــه وخـــت تـــه شـــاته تـــګ وایـــې چـــې ســـلطان عبدالحمیـــد ســـل کالـــه پخـــوا پـــه نیمـــه نـــړۍ حکومـــت کاوه؟

او کـــه هغـــه وخـــت درتـــه شـــا تـــګ ښـــکاري چـــې اروپایـــي پاچاهانـــو بـــه د عثمانـــي ســـلطان پـــه اجـــازه پـــه خپلـــو خلکـــو واکمنـــي کولـــه؟

او کـــه هـــدف دې لـــه دې هـــم پخـــوا شـــا تـــګ دی هغـــه وخـــت چـــې مملوکانو[غلامانـــو] اســـلامي نـــړۍ لـــه مغولـــو وژغورلـــه؟

او کـــه لـــه دې هـــم پخـــوا هغـــه وخـــت،چـــې عباســـیانو د نـــړۍ پـــه لویـــه برخـــه واکمنـــي کوله؟یـــا خـــو بـــه د امویانـــو وخـــت درتـــه د شـــاته تـــګ زمانـــه ښـــکاري، یـــا بـــه عمـــر رض شـــاته تلونکـــی بولـــې چـــې پـــه خپـــل وخـــت کـــې یـــې لـــوی دولـــت جـــوړ کـــړی و، یـــا بـــه هـــارون الرشـــید یـــادوې چـــې د بیزانـــس واکمـــن [نیکاپـــوروس] یـــې پـــه لیـــک کـــې د روم د ســـپي نقفـــور پـــه نـــوم یـــاد کـــړ.یـــا بـــه لومـــړی عبـــد الرحمـــن یـــادوې چـــې پوځونـــو یـــې روم او فرانســـه بـــل مـــخ واړول.دا یـــې سیاســـي لـــوری و. . . کـــه پوهـــه دې هـــدف وي نـــو ایـــا تـــا تـــه د ابـــن ســـینا، فارابـــي، ابـــن جبیـــر، خوارزمـــي، ابـــن رشـــد او ابـــن خلـــدون پـــه څېـــر د طـــب ، درملـــو، هندســـې، فضـــا، فلـــک او ادب عالمـــان د شـــاته تـــګ نښـــې ښـــکاري؟که هـــدف دې عـــزت او کرامـــت وي نـــو وګـــوره چـــې د ښـــځې پـــه یـــوه نـــاره خلیفـــه معتصـــم لـــوی پـــوځ راتـــول کـــړ او دښـــمن یـــې وشـــاړه ســـره لـــه دې چـــې اوس وخـــت یـــې وینـــې ګـــورې ښـــځې لـــه یهـــودو ســـره بندیانـــې دي او پاچاهـــان غـــږ هـــم نـــه کـــوي بلکـــې لا خـــوښ دي.او تـــا تـــه دا هـــم شـــاته تـــګ ښـــکاري چـــې پـــه اروپـــا کـــې لومـــړی پوهنتـــون د اندلـــس مســـلمانانو جـــوړ کـــړی او اوســـنۍ د فراغـــت جامـــه بـــه د اندلـــس د پوهنتونونـــو زده کوونکـــو اغوســـتلې،د فراغـــت د اوســـنۍ خولـــۍ ســـر هـــم لـــه دې املـــه هـــوار دی پـــه فراغـــت غونـــډه کـــې یـــې قـــرآن کریـــم پـــرې کېښـــوده.ښـــایي تـــه هغـــه وخـــت شـــاته تـــګ بولـــې چـــې قاهـــره د نـــړۍ تـــر ټولـــو ښـــکلی ښـــار و.او عراقـــي دینـــار د اوس وخـــت پـــه حســـاب[۴۸۳] ډالـــره کېـــده.یـــا بـــه هغـــه وخـــت یـــادوې چـــې د اروپـــا بېـــوزلان بـــه د کار لپـــاره اســـکندریې تـــه پـــه قاچـــاق راتلـــل.او کـــه هغـــه وخـــت یـــادوې چـــې امریـــکا لـــه مصـــر څخـــه د اروپـــا د لـــوږې پـــه مخنیـــوي کـــې مرســـته وغوښـــته.نو اوس تـــه خپـــل هـــدف راتـــه ووایـــه چـــې څومـــره وخـــت شـــاته تـــګ غـــواړې؟

# د پاچا لاس پرې کړئ!

**ژباړه: امان الدین قاسمي**

د اســـلامي عدالت نادره بېلګه

د عثمانـــي امپراتـــورۍ ســـتر ټولـــواک «ســـلطان محمـــد فاتـــح» د وخـــت مشـــهور او وتلـــي رومـــي انجنیـــر «ابســـلانتي» تـــه پـــه اســـتانبول کـــې د یـــوه جومـــات چـــې لـــوړې مرمرینـــې ســـتنې بایـــد ولـــري،د جوړولـــو امـــر وکـــړ او داچـــې چـــت یـــې لـــوړ او جومـــات پراخـــه راشـــي،نو د ســـتنو د ارتفـــاع کچـــه هـــم ورتـــه مشـــخصه کړه،خـــو انجنیـــر پرتـــه لـــه دې چـــې پاچـــا ســـره مشـــوره وکړي،پـــه لـــوی لاس جومات کـــې لنډې او وړې ســـتنې ولګولې،کلـــه چـــې پاچـــا خبـــر شـــو، نـــو ډېـــر غوســـه او د انجنیـــر د لاس دپـــرې کولـــو امـــر یـــې صـــادر کـــړ، خـــو کلـــه چـــې د خلیفـــه حـــواس پـــر ځـــای او پـــه خپلـــې کـــړې پرېکـــړې پښـــېمانه شـــو،کار لـــه کاره تېـــر او د انجنیـــر لاس پـــرې شـــوی و.

انجنیـــر سمدســـتي د اســـتانبول پـــه محکمـــه کـــې ســـتر قاضـــي» شـــیخ ســـاري خضـــر حلبـــي» تـــه پـــه ده د شـــوي زیاتـــي لـــه املـــه عریضـــه وکړه،قاضـــي بې لـــه ځنـــډه خلیفـــه محکمـــې تـــه احضـــار کـــړ،پاچـــا، غوښـــتل پـــه یـــوه ځانګـــړې چوکـــۍ،چـــې د ده لپـــاره مشـــخصه شـــوې وه،کېنـــي، قاضـــي وویـــل: پاچـــا ســـلامت، تاســـې بایـــد لـــه مدعـــي ســـره یـــو ځـــای ودرېـــږئ، پـــه چوکـــۍ نشـــئ کېناســـتلی،خلیفه سمدســـتي، لـــه مدعـــي ســـره پـــر یـــوه ځـــای ودرېـــد، د قاضـــي پـــه امـــر مدعـــي، د خلیفـــه پـــه شـــتون کـــې بیـــا خپـــل مظلومیـــت بیـــان کـــړ،قاضـــي خلیفـــه تـــه کـــړه: دی رښـــتیا وایـــي؟

خلیفه: هو! رښتیا وایي.

قاضـــي پـــه دې ټکـــو خپلـــه فیصلـــه صـــادره کـــړه: پاچـــا ســـلامت! تاســـې بایـــد قصـــاص شـــئ، او لاس مـــو بایـــد پـــرې شـــي،رومي انجنیـــر چـــې د دې ډول فیصلـــې تصـــور یـــې لا نشـــو کولـــی چـــې قاضـــي دې د هغـــه امپراتـــور د لاس پرېکولـــو امـــر ورکـــړي چـــې ټولـــه اروپـــا یـــې لـــه ویـــرې ســـاه نـــه شـــوه اخیســـتی، وارېـــده، قاضـــي تـــه وویـــل: زه نـــه غـــواړم د خلیفـــه لاس دې پـــرې شـــي، مـــا ښـــلی، البتـــه ماتـــه بایـــد دیـــت راکـــړل شـــي.

قاضـــي وویـــل: پاچـــا بـــه ټـــول عمـــر هغـــه تـــه روزانـــه لـــس ســـیکې ورکوي،خلیفـــه فیصلـــه قبولـــه کـــړه، خـــو د لســـو پـــر ځـــای بـــه هـــره ورځ شـــل ســـیکې رومـــي انجنیـــر تـــه ورکولې.

# غزل

**مغفور شهیدزی**

دنیا خـبره ده نادر قســـم حالات به راځي
دې ننـــــدارې ته مُتَـحِدَ ایالات به راځي

اذربایجان روسیه او چین پورې خبره نه ده
هم امریکا هم شـوروي هم امارات به راځي

چا چې زمـــوږ په ارمانـونـو باندې لوبې کړې
نن هغه ټول خلک سر ټیټي ننوات به راځي

ډېرو منلـــي یو د ډېرو په دې کارروان ده
د متقــــي صاحب خبره رسمیت به راځي

د ګاونــــډیو سره ښه سلوک لومړۍ هیله ده
چې ناځواني کوي هغو ته مشکلات به راځي

د رب په مرسته په زاړه توپک پرې ومو منل
امریـکا دا ویل چې ولې شرعیت به راځي

(مغفــــوره) بېرته د وتلو لارېې ورکه شوله
معلومه وه چې امریکا په جکمابات به راځي

# غزل

**ریحان وردګ**

غوټۍ د آبـــادۍ ږدو په لمنه د وطن
پر ځان مو نذر کړې ده پالنه د وطن

ځوانان دي که پېغلوټې که واړه دي که زاړه
بې برخې هېڅوک مه شه له دیدنه د وطن

نه نه ترهګر نه یو دوی په دې راسره وران دي
له سرو زره مو ډکه ده خرمنه د وطن

د امن او د مینې بوی له هرې کوڅې خېژي
اغوستې ده مـلا صاحب چپنه د وطن

د هـــرې معرکـــې بری آخر هم موږ ګټلی
تاریخ ته مو ور وګـوره دښمنه د وطن

شهیده! مجاهده! په ارواح دې رحمتونه
له وینو دې خال پاټې دی په زنه د وطن

راځه ریحان وردګ دې د راتلو په اُمید ناست یم
په ورکو لارو ورکه ارمانجنه د وطن

# مشران مو د ستايلو وړ دي

**منير فاروقي**

يقيناً زموږ د واحد اسلامي نظام مشران داسې څوک دي، چې د دې سپېڅلي صف د اتفاق او اتحاد ساتلو لپاره يې په خپل سر او مال دريغ نه دی کړی. له خپل اولاد، کورنۍ، شان او شوکت هر څه تېر شوي؛ خو دې صف ته ژمن پاتې شوي او دښمن ته يې اجازه نه ده ورکړې، تر څو د دوی په منظم صف کې درز واچوي او په څو ډلو يې ووېشي. کفارو په رنګارنګ لباسونو او څېرو غوښتل، چې دغه سپېڅلی، منظم او متحد لښکر بدنام کړي؛ خو لله الحمد! زموږ مشرانو ډېر با تدبيره او هوښيار ګامونه پورته کړل او په دغه ستر امتحان کې کامیابه او خپل ابدي دښمن ته يې پر مخ داسې درنه څپېړه ورکړه، چې راتلونکو نسلونو ته به يې هم د عبرت درس وي.

همدې کفارو په هر زمان کې د مسلمانانو په خلاف سازشونه په کار اچول، لکه په هغه پلان کې، کله چې مجاهدين د شوروي يرغل پر خلاف وجنګېدل او د وخت سوپر ځواک يې له خاورو سره خاورې کړ؛ نو مکار دښمن يو پلان په کار واچاوه، هغه داسې چې هسې نه په ټوله نړۍ کې يو ځل بيا اسلامي نظام قايم شي او د نړۍ کفارو ته يو سرخوږی جوړ شي، نو خپلو کې يې داسې فيصله وکړه، چې راځئ! دا بريالي مجاهدين د واک او منصب لپاره په خپلو کې وجنګوو او دغه بريا يې په ماتې وربدله کړو، ترڅو يو واحد اسلامي نظام قايم نه شي، چې همداسې وشول. ځينو ماده پرستو او منصب پرستو مشرانو د واک ترلاسه کولو لپاره، يو بل ته داسې کلک سنګر ونيو، چې تا به ګمان کاوه، له خپل ازلي دښمن سره په جنګ دي. په دغو داخلي جنګونو کې په لکونو افغانان مړه، زخميان، معلول او مهاجر شول او د ګل په شان ښکلی هېواد مو لوټې لوټې شو. الله جل جلاله دې له هغو خاينينو سره سخت حساب وکړي.

زموږ مشران د دې هېواد اصلي بچيان دي. خپلواکي، ازادي او افغاني غرور يې په خټه کې نغښتی دی. د هېچا غلامي قبلولی نه شي. که هر څومره کمزوري شوي هم دي؛ خو خپل افغاني غرور اجازه نه ده ورکړې، چې چا ته دې سر ټيټ او د هغوی تر امر لاندې دې کار وکړي. د همدغو سپېڅلو مشرانو قرباني او اخلاص و، چې الله جل جلاله د يو ازاد او خپلواک هېواد څښتنان کړو. ځينې ناپوهه هېوادوال مو د دښمن په تبليغاتو خطا شوي؛ وايي، چې قرباني کشرانو ورکړې او اوس مزې مشران کوي. د جهاد په دوران کې مو دا مشران چېرته و. سختۍ او تکاليف به کشرانو تېرول او مزې به دوی کوي. نه، داسې نه ده!

زه همدې ناخبره ورونو ته وايم، کله به چې د دين او هېواد دښمنانو ويل، چې زه به هلته د طالبانو مشران ومنم، چې کله دوی هم خپل زامن لکه د نورو خلکو د زامنو غونډې فدايي او استشهادي کړي، مشران يې لګيا دي د خلکو زامن وژني او خپله کراره ناست دي، مزې کوي.

خو دوی خطا وتلي دي، ځکه زموږ اميرالمؤمنين (شيخ الحديث هبة الله اخندزاده حفظه الله) خپل د زړه ټوټه(زوی) په همدې لاره کې فدا کړ. د دين او هېواد په دښمنانو يې فدايي عمليات ترسره کړل. همدارنګه زموږ شهيد امير( ملا اختر محمد منصور) تقبله الله په دې لاره کې، خپل ځان لولپه کړ او همدارنګه د اسلامي امارت بنسټګر ستر غازي (ملامحمد عمر مجاهد) رحمه الله د يو عرب مېلمه لپاره خپله پاچاهي قربان کړه، که چېرته مشران مو د منصب او چوکۍ شوقيان وی؛ نو ولې به يې د يو مسلمان عرب ورور لپاره ټوله پاچاهي قربانوله، د امريکا څخه به يې ډالر ترلاسه کړي و، لکه (دوه مخی ګاونډی هېواد، چې په ميليونونو ډالر يې د مجاهدينو په بدل کې له کفارو واخيستل او هغوی ته يې لاس ترلي وسپارل) دوی به هم مېلمه ورته سپارلی و.زموږ مشران هغه څوک دي، چې د خپل هېواد او اسلامي امت سره يې بې دريغه مينه په خپلو افعالو او اقوالو کې له ورايه ښکاري. د اخلاص او ژمنتيا ښې بېلګې يې د زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو او خپل هېواد ته بېرته راستانه شوو هېوادوالو سره، د دوی معامله وه. د خپلې خولې ډوډۍ يې ورسره شريکې، د خپل تن لباس يې ورسره نيمايي او د خپلو سرونو په قيمت يې د هېوادوالو ژوند ژغورل دي. په اوسنيو سېلابونو کې، چې مسؤلينو مشرانو کوم خدمتونه خپل هېوادوالو ته وکړل او کوم د دعا لاسونه، چې د دوی په حق کې اوچت شول، دا لاسونه به د زړه له تله تل د سلام او دعا لپاره هسک وي، ځکه دوی له يوه داسې اسلامي حکومت څخه برخمن دي، چې د دوی د ځان، مال، نفس او عيال ساتنه کوي. دوی هم او مالونه/ حيوانات يې هم د واورې منځ کې بند پاتې و، مسؤلينو د خپلو کورونو څخه خواړه او اوليه توکي ورته راوړل او بند پاتې ورونه يې له يادو ساحو امن ځايونو ته انتقال کړل. که زموږ مشران د خپل هېواد او خلکو سره وفاداره نه وی؛ نو اوس به يې د تېر جهاد ډېری مشرانو غونډې خپل کړی جهاد او د شهيدانو وينې خرڅې کړې وې. کله چې امريکا+ ناټو په افغانستان حمله وکړه، زموږ مشرانو د دنيوي ژوند او مزاياوو په مقابل کې د اخرت ژوند او زندانونه غوره وګڼل او په لسګونو مشران مو، چې اوس د واک په ګدۍ ناست دي، د تورو تمبو شاته واچول شول. د هغو خلکو لپاره، چې وايي: مشرانو يې مزې وکړې او کشران غريبان يې وژل کېږي؛ ښې بېلګې ملا عبدالغني برادر، مولوي خيرالله خيرخواه، ملافاضل مظلوم يار او ... نور دي. دا څوک وو؟ کشران وو؛ که مشران؟

قدرمنو! راځئ خپل مشران وستايئ او په نېکو کارونو کې يې ملاتړ وکړئ. خپلې نېکې مشورې ورسره شريکې کړئ او که په کوم ځای کې درته نقص معلوم شو، د اصلاح غوښتنه او سالم انتقاد وکړئ.زه د داسې غيرتي او ايماندارو مشرانو تر امر لاندې خدمت کولو باندې ويارم، ترڅو چې دوی خپل هېواد او مسلمه امت ته وفاداره وي، ملاتړی به يې يم.

# افغـــان اعـــلانات

### اطلاعیه به کرایه دهی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی ، مساحت ٦٦ متر مربع جای واقع پل هوائی منزل دوم ترمینل بین المللی میدان هوائی بین المللی کابل را به جهت اشتهارات و اعلانات به اجاره میدهد.

اشخاص که خواهش به کرایه گرفتن مساحت متذکره را از طریق مزایده داشته باشند ، از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز درخواستی های خویش را به آمریت املاک ، ریاست املاک و خدمات، وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصار وات کابل بسپارند . شرطنامه برای متقاضیان دربدل ۳۰۰۰ افغانی بدون باز پرداخت توزیع میگردد.٤٨٧٦

***

### د داوطلبيو اعلان

د کابل ولايت د کانونو رياست د سروبی ولسوالی د نغلو بند کاسې ساحې شګې يو بلاک چې مساحت يې ( ۹۸۷۷،۹) متر مربع دی ، د داوطلبي په موخه له ۱۴۰۲/۱۲/۱۰ څخه تر ۱۴۰۲/۱۲/۲۶ نيټې پورې اعلان ته سپارۍ، ټول داوطلبان کولای شي چې د ګډون په موخه خپله درخواستي د اعلان د نيټې د ختميدو څخه مخکې د کابل ولايت د کانونو رياست ته وسپاري او د داوطلبی اړوند فورمې له ياد رياست څخه ترلاسه کړی.

د يادې اجازه نامې فيس پنځلس زره ( ۱۵۰۰۰ ) افغانۍ او د ژوند چاپيريال ساتنې ضمانت يې څلويښت زره ( ۴۰۰۰۰ ) افغانۍ دی۴۸۶۸

***

### اطلاعیه به کرایه دهی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی ، مساحت ( ۷۸) متر مربع جای واقع منزل اول ترمینل محلی میدان هوائی بین المللی کابل را به منظور فعالیت کانتین خوراکه فروشی به اجاره میدهد.

اشخاص که خواهش به کرایه گرفتن مساحت متذکره را از طریق مزایده داشته باشند ، از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز درخواستی های خویش را به آمریت املاک ، ریاست املاک و خدمات، وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصار وات کابل بسپارند . شرطنامه برای متقاضیان دربدل ۳۰۰۰ افغانی بدون باز پرداخت توزیع میگردد٤٨٧٧

***

### اطلاعیه دعوت به داوطلبی

شرکت تولید مواد ساختمانی وزارت دفاع ملی جایداد مازاد خویش را شش اطاق به مساحت ٤*١٧ سایه بان ١١*٢٤ میدان ، آن و دهلیز ٢٧/٣ که مجموعا ٩٤٥ متر مربع میشود از طریق داوطلبی به کرایه میدهد. افراد و اشخاص موسسات دولتی که خواهش قرار داد آنرا داشته باشند از تاریخ نشر ا علان الی مدت ٢١ روز در خواست های خویش را به شرکت تولید مواد ساختمانی واقع عقب دستگاه افغان هود خیل بسپارند شرطنامه اخذ نمایند.٤٨٨٩

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت غلام سرور لمتید یک عراده موتر پلیت ٢٥٤٢١-٣ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای اسد الله فرزند شیر احمد بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ٤٨٦٧

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت تمیم یاسر لمتید یک عراده موتر پلیت ٨٣٦٦-٢ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای صفی الله فرزند حاجی لاهور بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ٤٨٨٢

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت مبین امین لمتید یک عراده موتر پلیت ٥١٨٢٩-٣ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد شریف فرزند ابوالحسن بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ٤٨٦٥

***

### اطلاعیه به کرایه دهی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی ، مساحت ١٥ متر مربع جای یک باب دفتر سیاحتی و زیارتی واقع سالون عزیمت منزل اول ترمینل بین المللی میدان هوائی بین المللی کابل را به اجاره میدهد.

اشخاص که خواهش به کرایه گرفتن مساحت متذکره را از طریق مزایده داشته باشند ، از تاریخ نشر اعلان الی مدت ٧ روز درخواستی های خویش را به آمریت املاک ، ریاست املاک و خدمات، وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصار وات کابل بسپارند . شرطنامه برای متقاضیان دربدل ٣٠٠٠ افغانی بدون باز پرداخت توزیع میگردد.٤٨٧٩

***

### اطلاعیه تغییر اسم دواخانه

محترم عبدالحمید آریوبی فرزند عبدالرزاق ولدیت عبدالغفار دارنده تذکره نمبر ( ٢٩٨٤٤-٠٥٠٠-١٣٩٩) مسکونه اصلی ولایت پکتیا مالک امتیاز دواخانه عبدالرحمن سدیس واقع ناحیه هشتم ولایت کابل عنوانی این اداره عارض و خواهان تغییر اسم دواخانه خویش از عبدالرحمن سدیس به اسم نوی درمان گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت سه روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ٤٨٨٣

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم محمد طاوس فرزند حمزه خان یک عراده موتر پلیت ١٨٣٥١ تکسی کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد ضمیر فرزند امیر گل بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ٤٨٨١

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت امین قسیم لمتید یک عراده موتر پلیت ٧٢٢٧٨-٢ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای نور محمد فرزند میر افغان بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ٤٨٨٨

***

### اطلاعیه تقرری

قرار است محترم شرین آقا فرزند عبدالقادر دارنده تذکره شماره ( ٢٢٢٧٢٠٢١ ) مسکونه فعلی ناحیه در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید نامبرده اگر به دوایر و موسسات مسؤلیت داشته باشد الی مدت یک هفته به ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت.٤٨٨٦

***

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم محمد صادق فرزند عبدالخالق مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.٤٨٨٥

***

### اطلاعیه مفقودی

به تعداد ٧ قطعه اقامه کشور ترکیه مربوط اشخاص ذیل :

١: محمد رضا ولد دل جم
٢: حمیده بنت عبدالوهاب
٣: احمد بشیر ولد محمد رضا
٤: حسنا بنت محمد رضا
٥: فریحه بنت محمد رضا
٦: محمد نصیر ولد محمدرضا
٧: محمد بصیر ولد محمد رضا

که تخلص همه شان حاجی زاده میباشد، مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ٤٨٦٣

***

### اطلاعیه مفقودی

مکتوب گمرکی یک عراده تیلر نمبر ٦٥٠٥٨ شرکت عمر آروین لمیتد مفقود گردیده فاقد اعتبار میباشد. ٢٥٦٠

***

### اطلاعیه داوطلبی

ریاست امور مهاجرین ولایت کابل برای سال ١٤٠٣ خویش بخاطر کرایه گیری یک دربند تعمیر کرایی که دارای ١٢ باب اتاق کاری ٣ باب تشناب ، ٢ باب آشپزخانه ، حویلی که گنجایش ٣ عراده موتر و مراجعین را داشته باشد در نواحی «٢،٣، ٦» شهر کابل ضرورت دارد. اشخاص واجد شرایط که همچو تعمیر داشته باشند درخواست های خویش را از تاریخ نشر اعلان الی مدت «٢١» یوم به آمریت مالی و اداری این ریاست واقع سرک سوم سیلو کوچه سنگ تراشی بسپارند. ٤٨٥٥

***

### اطلاعیه پشتنی بانک

پشتنی بانک قرار داد تهیه تدارک خدمات Primary/Backup Sophos XGS 3300 که به تاریخ ١٤٠٢/١١/٨ آفرگشایی شده بود با شرکت نیتورکینگ افغان اسکلیز گروپ به مبلغ مجموعی ( ٢٥٧٤٠٠٠) دو میلیون و پنجصد و هفتاد و چهار هزار افغانی اعطا مینما ید .

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به مدیریت عمومی خدمات پشتنی بانک واقع پل باغ عمومی وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.٤٨٦٦

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی (شرکت تمیم یاسر لمیتد) یک عراده موتر پلیت ٧٢٥١١- ٢ ش کابل تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای مروند ولد سفیر به فروش رسانیده است. بنا اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ٤٨٥٦

***

عنوان: پروژه تهیه بسته های مواد غذایی برای ولایات و ولسوالی ها. شماره دعوت به دواطلبی:

CDDO-BG-06-RFQ-1402

موسسه انکشاف به رهبری مردم از تمام دواطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه دواطلبی پروژه تهیه بسته های مواد غذایی برای پنج ولایت که معلومات مکمل ولسوالی ها و قریه جات در اسناد داوطلبی درج میباشد اشتراک نموده و نقل اسناد مربوط را در بدل ٣٠٠٠ افغانی توسط فلش دسک از ریاست تدارکات موسسه انکشاف به رهبری مردم بدست آورده و آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات بطور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت (١١:٠٠) قبل ازظهر به روز شنبه تاریخ (١٩ حوت ١٤٠٢)به ریاست تدارکات موسسه انکشاف به رهبری مردم واقع کارته چهار ناحیه سوم عقب آمریت حوزه سوم امنیتی خانه نمبر ٢٢ ارائه نمایند. آفر های نا وقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

جلسه آفر گشایی به روز شنبه تاریخ (١٩ حوت ١٤٠٢) ساعت ١١:٠٠ قبل از ظهر در صالون کنفرانس موسسه انکشاف به رهبری مردم برگذار میگردد.

نمبر تیلفون: ٩٣٧٩٠٩٣٥٩٣٥+

ایمیل آدرس :l.azizi@cddo.org.af ٤٨٩١

## د نشه يي توکو پر وړاندې ...

د کاري زمينې برابرولو په پار يې ورته د حرفوي زده‌کړو پروګرامونه پيل کړي دي.
د هغه په خبره، په افغانستان کې د يو خپلواک نظام او سراسري امنيت په راتلو سره، د نشه يي توکو د بديلو کښتونو د ترويج لپاره ښه زمينه برابره شوې ده او نړيوال سازمانونه کولای شي په دې برخه کې له افغانانو سره همکاري وکړي.
دغه راز د ملګرو ملتو سازمان د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې ادارې پخواني اجرائيوي رئيس، د نشه يي توکو پر وړاندې د اسلامي امارت مبارزه ستايلې او ويلي دي چې نړيواله ټولنه مکلفيت لري افغان بزګرانو ته د کوکنارو د بديلو کښتونو وړاندې کولو په برخه کې له اسلامي امارت سره ګډه همکاري وکړي.
هغه زياته کړې چې دوی غواړي په نږدې راتلونکي کې په کابل کې نړيوال کنفرانس جوړ کړي او د دغه کنفرانس له لارې افغان بزګرانو ته د بديلو کښتونو وړاندې کولو په برخه کې د نړيوالو مالي ملاتړ راجلب کړي.

## افغان کډوال د پاکستان په ...

د اسيا او ارام سمندر لپاره د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو د عالي کمېشنرۍ مشرې په دغه کتنه کې وويل چې د(UNHCR) اداره د افغان کډوالو د ستونزو د حل ته ژمنه ده او له افغان کډوالو سره به يې مرستې دوام وکړي.
هغې زياته کړه، چې په راتلونکې اوونۍ کې به په جينوا کې د کډوالو اړوند جوړېدونکې ناستې ته د خپل راپور په وړاندې کولو سره به افغان کډوالو ته د لا ډېرو مرستو را جلبولو هڅه وکړي او د افغانستان شته حقايق به له نړيوالو سره شريک کړي.
سرچينې همدارنګه زياته کړه، چې افغان کډوال له سختو شرايطو، فقر او بېکارۍ سره مخ دي، چې وچکالي او نورې طبيعي پېښې يې هم ژوند ګواښي او اړتيا ده، چې هغوی ته د کارموندنې ترڅنګ د سرپناه، روغتيا او پوهنې په برخه کې اساسي مرستې وشي.
په ورته وخت کې د رياست الوزراء سياسي مرستيال په دغه کتنه کې له افغانستان سره د ياد سازمان او نورو مرستندويو بنسټونو د مرستو د دوام غوښتنه وکړه.
د هغه په وينا، اسلامي امارت ته له تېرې ادارې څخه لوږه، فقر او بيکاري په ميراث پاتې ده، چې کنټرول او ختمول يې ډېر وخت او ډېرو امکاناتو ته اړتيا ولري.
هغه په ټينګار سره وويل چې افغان کډوال د پاکستان په نا امنيو کې هېڅ رول نه لري خو بيا هم په دغه هېواد کې افغان کډوال له سختونو ستونزو سره مخ دي او په زرګونه افغانان په بېګناه ډول زندانونو ته اچول شوي دي.
سرچينې غوښتنه وکړه، چې بايد افغان کډوال خپلې خوښې ته پرېښودل شي، چې په خپله خوښه هېواد ته راستانه شي او په کور دننه ورته لازم چمتووالی هم ونيول شي.
د رياست الوزراء سياسي مرستيال نيوکه وکړه، چې د ملګرو ملتونو او د ځينو نورو نړيوالو ادارو د هغو رپوټونو له امله چې په ناسمو معلوماتو ولاړ وي، خلک ناقانونه کډوالۍ ته هڅول کېږي.

## چينايي پانګه والو د مرمر ډېرو ...

پر برابرولو خوښي څرګنده کړې او د هېواد په کانونو په ځانګړې توګه د مرمر ډېرو په کانونو کې يې د پانګونې غوښتنه کړې ده.
د کانونو او پټروليم وزارت سرپرست هم، په افغانستان کې د پانګونې د شته فرصتونو په اړه د خبرو ترڅنګ؛ په هېواد کې د پانګونې په برخه کې د هغوی د لېوالتيا هرکلی کړی او د کانونو د قانون او طرزالعمل مطابق يې ورسره د همکاريو ژمنه کړې ده.
تر دې وړاندې هم يو شمېر کوچنيو او لويو چينايي شرکتونو، په افغانستان کې د کانونو په برخه کې د پانګونې لېوالتيا ښودلې وه.

## افغانستان مسیر مناسب، برای ...

اوافزود: با استفاده از این بندر، تسهیلات برای انتقال مواد خام مورد ضرورت افغانستان ایجاد شده است و تلاش می کنیم که بخش ترانزیت کشور از این مسیر استفاده اعظمی کند.
گفتنی است که سرپرست وزارت صنعت و تجارت؛ به منظور افتتاح اولین کنفرانس تواصل تجارتی ترکمن - افغان، نمایشگاه محصولات و کالاهای تولیدی افغانستان و ملاقات با مقام های ترکمنستانی روی گسترش همکاری های تجاری و ترانزیتی میان دو کشور، به ترکمنستان رفته است.

## د ښوونکو مسلکي پراختيا امريت به ...

د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا کمېټه وتوانېدله، چې په تېره يوه مياشت کې په ۲۶۵۳ ځانګړو شويو بستونو کې تکړه او با استعداده کسان د هغوی د تحصيلي کچې او د نمرو فيصدۍ ته په پاملرنې سره وګوماري. حمزه د دغه بستونو د لا وضاحت لپاره و ويل، چې د دغو ګمارل شوو بستوو څخه ۵۱۴ تنه د ښوونيزې څارنې د غړو په توګه، ۱۱۷ تنه د ښځينه وو ځانګې د علمي غړو او په ياد تشکيلاتي جوړښت کې ۲۰۲۲ تنه د نارينه علمي غړو په توګه ټاکل شوي دي.
هغه د څارنې او ارزونې څانګې د لرې کړل شوو کسانو په اړه هم و ويل، چې ځينې يې ګمارلې دي او ځينې نور به يې په مختلفو برخو کې وګمارل شي، په همدې اړه نوموړي و ويل: دغه اکثره يې په دندو ګمارل شوي دي، ځينې يې پاتې دي، چې د ډېريو پېشنهادونه مقام ته را روان دي، يا د معلمي، سرمعلمۍ، مديريت په صفت يا په بل صفت باندې دوی راپېشنهادېږي او دلته ځای پر ځای کېږي. د نوموړي په وينا چې اوس مهال ۱۴۹۵ بستونه خالي دي او هغه کادري غړي( که د څارنې د څانګې و او که د دارلمعليمين) کولی شي چې خپل غوښتنليکونه مقام ته وسپاري او مقام به يې کمېټې ته راجع کړي، هغه دا هم و ويلې، چې دوی دا هم کولی شي، چې د خپلې وظيفې لپاره ولايت انتخاب کړي.
له دې وړاندې د ياد وزارت په يوه غونډه کې پرېکړه شوې وه، چې د ولايتونو په ښوونځيو کې د ښځينه ښوونکو د وړتيا لوړونې او ملاتړ په موخه دې د ښځينه ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا ټيم هم جوړ شي. دغه غونډه کې يو شمېر اړوندو ولايتونو کې د دريمې ژبې د ښوونکو لپاره د اړتيا وړ خالي بستونو د ځانګړي کولو په اړه بحثونه ترسره شوي و. د يادونې وړ ده، چې د ښوونکو روزنې مسلکې پراختيا امريت د څارنې او ارزونې څانګې پر ځای اضافه شوی دی، چې د له منځه ورل شوې څانګې نږدې ۵زره غړي بې دندو شوي وو.

## سږ کال مو څه باندې ۶۹ ميليونه ...

شرکتونو د بررسي او څارنې ټيمونه توظيف شوي او په پايله کې(۱۸۵۰) بابه سياحتي شرکتونه پلټل شوي چې له دې جملې څخه(۱۵۵۰) بابه سياحتي شرکتونو له طرزالعمل او قوانينو سره سم فعاليت پيل کړی.
ښاغلی بهاء وايي، چې ۶۰۳ بابه سياحتي شرکتونو ته نوي جوازونه ورکړل شوې او(۲۱۵) بابو مخکني شرکتونو ته جوازونه تمديد شوي دي، همداشان (۱۵۵) بابه آنلاين خدماتي دفترونو ته نوي جوازونه وېشل شوي دي. د دې ترڅنګ(۲۷) بابه هوټلونو او رستورانټونو ته نوي جوازونه ورکړل شوې او د (۲۸) بابو هوټلونو جوازونه تمديد کړې دي.
نوموړي زياته کړه، چې د روان کال په اوږدو کې(۳۵۰) تنه بهرنيو اتباعو لپاره د ويزو تمديد او خروج پروسس مراحل طی شوي او (۱۸۰۰) تنه بهرنيو سيلانيانو لپاره د ولايتونو د ليدنې په موخه مکتوبونه ورکړل شوي او اړونده مسوولينو ته ورپيژندل شوې دي.
د هېواد په مرکز او ولايتونو کې د سيلانيانو د راجلبولو لپاره درې مياشتنۍ د افغان تور په نوم مجله چاپ او ويشل شوې ده، همدارنګه د يادو موخو لپاره بروشورونه ، بنرونه، د تاريخي آبداتو او طبيعي منظرو سره چاپ او بنرونه د هېواد په مناسبو ځايونو کې نصب شوې دي او د قرغې ګلف رستورانت او ملحقات د داوطلبې له مخې نوي قراردادي ته په(۲۵۵۰۰۰) افغانی مياشتنۍ کرايه ورکړل شوی دی.
محمد نبی بهاء زياتوي، چې د افغان تور دولتي شرکت د نويو عايداتي منابعو د تثبيت په منظور څو پراختيائي طرحې لوړ پوړو چارواکو ته وړاندې کړې دي او همدارنګه د غزنی ولايت سردې او سلطان بندونو ته د عايداتي منابعو په ډول(۱۲) قايقونه او اته دانۍ د ناستې تختونه چې سايوانونه لري جوړ کړيدې، ترڅو سيلانيان ورڅخه ګټه واخلي او همدارنګه نورستان ولايت ته هم کښتۍ ليږل شوي او دامهال مينه وال ورڅخه استفاده کوي.
د ښاغلي بهاء په وينا، د افغان تور شرکت دندې، د سفر اړوند خدمتونو(سياحتي شرکتونو) او د ترانسپورتي خدمتونو د مؤسسو جواز صادرول، سيلانيانو لپاره لارښود ټاکل، په سياحتي سيمو کې د هوټلونو او کمپونو جوړول، د بهرنيو سياحتي شرکتونو او ميلمستونونوته د کارکونکو معرفي کول، د جواز کارت د اخيستلو او ويزې د اوږد ولو په موخه اړونده مراجعو ته ليږل، د سيلانيانو لپاره په هوايي ډګرونو کې د ترانسپورت برابرول بهرنيو اتباعو او سيلانيانو ته د اقامت ويزې تمديد کول او په سياحت او سفر چارو پورې اړونده خدمتونو سرته رسول دي.
هغه زياته کړه، چې د ياد رياست موخې په هېواد کې د کورنۍ او بهرنيو توريزم د پراختيا په موخه د سيلانيانو د ګرځېدا او سفر چارو پورې اړوند خدمتونه په معياري ډول وړاندې کولو کې آسانتياوې رامنځته کول د توريزم په برخه کې د افغان تور دولتي شرکت مالي بنسټ پياوړتيا لپاره د عوايدو راټولول دي.
همدا راز، د افغان تور دولتي شرکت د توريزم صنعت د ودې او پراختيا او د سيلانيانو د ګرځيدا او سفر چارو د سمون په موخه په ۱۳۳۷ه ش کال کې د ګرځندوی انتفاعي سازمان په نوم رامنځته شو او په ۱۳۵۸هـ ش کال کې د ګرځندوی تصدي په نوم او بيا په ۱۳۶۰ هـ ش کال کې د افغان تور انتفاعي تصدۍ په نوم او په ۱۳۹۹ هـ ش کال کې د افغان تور دولتي شرکت په نوم ونومول شو.

## سرپرست وزارت معادن و پترولیم:
# به ارایه خدمات برای شهروندان کابل متعهد هستیم

شیخ الحدیث شهاب‌الدین دلاور، سرپرست وزارت معادن وپترولیم با الحاج ملا امین‌الله عبید، والی کابل در دفترکارش ملاقات کرد.
دفتر مطبوعاتی وزارت معادن و پترولیم بانشر این خبر نگاشته است: در این ملاقات والی کابل فعالیت‌ها و دست‌آوردهای وزارت معادن و پترولیم را ستوده، نظریات وپیشنهادات شان‌را به‌منظورحل مشکلات مردم کابل با سرپرست وزارت شریک نمود و خواستار اعمارسرک لته‌بند از عواید وزارت معادن شد.
سرپرست وزارت معادن وپترولیم در این دیدار روی فعالیت ها و برنامه های کاری وزارت معادن صحبت کرده ایجاد سهولت‌های لازم برای سرمایه گذاران ملی و بین المللی، عقد قراردادهای معادن، زمینه اشتغالزایی و یک سلسله موضوعات دیگر را از فعالیت های مهم آن اداره عنوان کرده وعده سپرد که برای ارایه خدمات بهتر به شهروندان کابل، از هرگونه تلاش و کوشش دریغ نخواهد شد.

## د کابينې اتلسمه غونډه؛ د کابل - لوګر لويې ...

ادارو په همکارۍ عملي کېږي.
د کابينې په دې غونډه کې امنيتي کمېسيون ته دنده وسپارل شوه چې د ټولو هغو قاچاقبرانو چې د نشه يي توکو په قاچاق کې ښکېل دي؛ د فعاليت ځايونو او ممنوعه توکي د کشف په اړه پرېکنده اقدامات ترسره کړي.
همداراز امارتي اداري له امارتي شرکتونو سره د منبع واحد له لوري په قرارداد کولو مکلفې وګڼل شوې او پرېکړه وشوه چې په ټولو هغو مواردو کې چې دا شرکتونه يې ترسره کولی شي؛ ورته لومړيتوب ورکړل شي.

## د بغلان له مالدارانو سره ...

شوي وو او د ډېرو اوربښتونو له امله يې څاروي له لوږې سره مخ و د خوراکي توکو مرسته وشوه.
امرخېل، زياته کړه چې تر دې دمه بغلان ولايت کې مېشتو د باميان، تخار او بدخشان ولايتونو څخه راغلو زيانمن شويو مالدارانو او کوچيانو ته د څارويو خوراکي توکي چې د اټکل له مخې تردې مهاله شاو خوا پر ۳۱۵۸۰ څارويو خوراکي توکي ووېشل شول.
همدارنګه د کرنې رياست چارواکي د جوړې شوې کمېټې په همغږۍ د ولايت مقام د مرستيال تر څارنې لاندې کوښښ کوي چې نور واښه هم برابر او پر زيانمنو مالدارنو يې ووېشي.

## د افغانانو برې او ګټه په ...

ضايع نه کړي چې د ځينو غرضي جهتونو له لوري يې فرمايشونه اورېدل کېږي، نو هيڅ شک نشته چې د ملت د همدغسې اتحاد او پرله پسې کار او زيار په برکت به مولنده موده کې داسې برياوې په برخه کېږي چې ټوله نړۍ به راته ګوته په غاښ وي. مطلب دا چې د مکرۍ که څه هم افغانان د بمونو، توپونو او ټوپکو له ګوزاره په امن دي خو ذهنونه او دماغونه يې د ګڼو دښمنانو د خطرناکو تبليغاتي ګوزارونو او شيطاني لمسونو تر يرغل لاندي راغلي. د دغسې استخباراتي جګړې يوازنی حل دادی چې زموږ لوستي اشخاص، هوښياران، سياستوال، استادان، ديني علماء او د ټولنې نور مخور کسان د دښمنانو په بدنيتۍ وپوهيږي، په چالاکۍ او دروغويې دوکه نه شي او تر وروستۍ کچې د خپل منځي يووالي او د نظام په ټينګښت کې اخلاص او هلې ځلې وکړي. دغه راز د ولس په منځ کې هم بايد ټول هغه غولېدلي وګړي وپوهول شي کوم چې لا هم د نظام د بدلون لپاره پر جګړو باور لري يا د پرديو يرغلونو په انتظار ناست او د حکومت د کمزورۍ کولو او بې ثباتۍ لپاره دسيسې جوړوي. يا دساتئ چې فقط يووالی او د نظام ملاتړ زموږ د راپېښو مشکلاتو يوازنۍ لاره ده.

## شبرغان-مزار د ګازو پروژې چارې ...

د لېږد ورتيا لري چې د رغولو چارې يې له نړيوالو معيارونو سره سم د افغان انجنيرانو له لوري پر مخ وړل کېږي.
له دغو ګازو څخه به په مزار شريف ښار کې د برېښنا، غضنفر پاور، د ښيښو جوړونې کارخونې او په صنعتي پارکونو کې ترې ګټه واخيستل شي، چې افغانستان به د ځان بسياينې خواته نږدې کړي.
اوس مهال د شبرغان د ګازو له څاه ګانو څخه په ورځني ډول ۶۵۰ زره متر مکعب ګاز استخراج کېږي، چې د اقچې او شبرغان ښار کې د کورونو تر څنګ بيات پاور، برېښنا او په نور بېلابېلو برخوکې ترې ګټه اخيستل کېږي.
د ويلو ده چې د ګازو ددې نل ليکې ټولټال ارزښت ۶۰۹ ميليونه افغانۍ دی چې له کورنۍ بودجې ورکول کيږي.

## ۳۸۳ بال پرنده را از دست قاچاقبران ...

می شوند به حدی است که اگر توجهی جدی در سطح ملی و جهانی نسبت به این مساله صورت نگیرد، تنوع حیات به صورت اساسی رو به کاهش میرود و نسل های آینده از داشتن بسیاری از انواع وحش محروم خواهند ماند. ازدست دادن حیات وحش، زنگ خطری برای ادامه حیات بشر و نسل های آینده است، چرخه تنوع حیات با چرخه حیات انسانها پیوند عمیق و ناگسستنی دارد.
وی اظهار داشت که ما اگر خود را به عنوان اشرف مخلوقات میدانیم به این نکته مهم توجه کنیم که آنها را نیز خداوند متعال که خالق ما انسانها نیز می باشد، خلق کرده است. اوست که برای تك تك مخلوقاتش تصمیم می گیرد که آنها را چه زمانی بدنیا آورد وچی زمانی از دنیا ببرد و خداوند به آنها نیز حق زیستن داده و ما چگونه به خود اجازه می دهیم که در کار خداوند توانا دخالت کنیم ومخلوقات خداوند را نابودسازیم.
آقای فرهنگ تأکید کرد که امید است تا ملت افغانستان براهمیت انواع حیات وحش پی برده ازتجارت وشکار بی رحمانه حیات وحش خودداری ورزیده ونگذارند تا این مخلوقات زیبای خداوندی درمعرض خطرونابودی قرارگیرند، چون بقای حیات وحش نه تنها برزیبای طبیعت می افزاید بلکه نسل های بعدی می توانند اززیبای آن نیز مستفید وبهره مند گردند.

**تیموری**

## تاجران داخلی و خارجی ...

خاص رهبری امارت اسلامی در زمینه حمایت از تولیدات داخلی و تشویق سرمایه‌گذاران در بخش‌های مختلف شدند.
مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست الوزرا گفت: امارت اسلامی در زمینه تأمین امنیت همه شهروندان کشورو توسعه زمینه‌های اقتصادی و سرمایه‌گذاری از هیچ تلاشی دریغ نمی‌ورزد.
معاون اداری ریاست الوزرا هم‌چنان افزود: امارت اسلامی از تمامی سرمایه‌گذاری‌ها در کشور استقبال کرده و تسهیلات لازم را برای تاجران و سرمایه‌گذاران فراهم می‌کند. او از تمامی تاجران افغان مقیم خارج می‌خواهد تا به کشور شان برگردند و در آبادانی و پیشرفت آن سهیم شوند.

## جهان، ظلم‌های جاری بالای ...

را بهترین عبادت خواند و گفت که مشوره، حکم الهی است و هدف نظام اسلامی، حصول رضای الله متعال، رضایت بندگان و ارائه خدمت به آنان است. مولوی محمد عالم، رییس عمومی محافظت ریاست الوزرا گفت: هماهنگی و انسجام بهتر میان ادارات ریاست الوزرا سبب شده است این ریاست امور کاری خویش را با موفقیت انجام دهد. پس از استماع صحبت‌های مسوولان یادشده، ملا محمد حسن آخند رییس الوزرا در صحبت هایش از قربانی‌های تمام مجاهدان در بیست سال گذشته برای حاکمیت نظام اسلامی قدردانی کرده گفت: تمام مسوولان برای بقا و تقویت نظام اسلامی مسوولیت‌های شان را به گونه درست انجام دهند.
رییس الوزرا با اشاره به مظالم بالای مردم فلسطین، گفت که جهان ظلم‌های کنونی بالای مردم مظلوم فلسطین را نمی‌بیند و زیر نام حقوق بشر، دنبال بدنام سازی نظام اسلامی می باشد.
ملا محمد حسن اخند، گفت که در این زمان حساس، حفاظت از اسلام و دین تنها به دوش ما قرار گرفته، چشم تمام جهان اسلام به سوی ما است و این یک مسوولیت الهی است.
رییس الوزرا به منظور انجام بهتر امور به همه هدایت داد که متوجه مسوولیت‌های خویش باشند، همه باید با مراجعین برخورد نیک کنند و کار آنان را به موقع و بدون موانع و تاخیر انجام دهند.
ملا محمد حسن آخند هم‌چنان به تمام مسوولان ادارات امارتی هدایت داد که در انجام امور شان از عدالت و احتیاط کار بگیرند و به حفاظت از بیت المال توجه جدی کنند.

**Shariat Daily**

# Shariat

**Published by**
**Islamic Emirate of Afghanistan**
**M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies**
0782080666
**Chief Editor : Farooq Ghaljai/** 0778635852
**Email: info@shariatdaily.com**
**WWW.shariatdaily.com** ویب سایت:

# شریعت

د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Tuesday 05 March 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 396

**مولوی عبدالسلام حنفی:**

# تاجران داخلی و خارجی باید در آبادانی و پیشرفت افغانستان سهیم شوند

مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست الوزرا امارت اسلامی افغانستان از تاجران افغان در خارج خواست که به کشور برگردند و در آبادانی و پیشرفت آن سهیم شوند.
ارگ در خبرنامه‌یی نوشته است: مولوی عبدالسلام حنفی، این خواست را در دیدار با حفیظ الله فریاد، رییس فابریکه سپین زر و محب الله اوریاخیل، یکتن از تاجران ملی بیان داشت.
در این دیدار، حفیظ الله فریاد



و محب الله اوریاخیل از بهبود وضعیت اقتصادی و تجارتی در کشور، تأمین امنیت جانی و مالی همه شهروندان بخصوص تاجران و سرمایه‌گذاران ابراز خرسندی کردند و گفتند که فراهم بودن زمینه‌های بهتر اقتصادی و سرمایه‌گذاری در کشور سبب شده تا تاجران و سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی به تجارت و سرمایه‌گذاری در افغانستان بپردازند.
آنان خواستار توجه ... ص۷

## ۱۱ ټانکره بې کیفیته تېل بېرته ایران ته وګرځول شول

د سټنډرډ ملي ادارې ایران ته د ۱۱ ټانکره بې کیفیته تېلو د بېرته ورګرځولو خبر ورکړی دی. یادې ادارې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د نیمروز بندر له لارې یې ۱۱ ټانکره بې کیفیته تیل (ډیزل او پټرول) چې د دې ادارې له سټنډردونو سره یې مطابقت نه درلود بېرته ایران ته ور ګرځولي دي. خبرپاڼه زیاتوي، چې په دې وروستیو کې سټنډرډ ملي ادارې په خورا جدیت د بې کیفیته تېلو د واردولو د مخنیوي لپاره عملي ګامونه پورته کړي. یادې ادارې له ټولو سوداګرو څخه غوښتنه کړې، چې هېواد ته با کیفیته توکي وارد کړي، کنه نو له ورته قانوني چلند سره به مخ شي.
د یادونې وړ ده، چې یادې ادارې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ څخه تر اوسه پورې سلګونه ټانکره بې کیفیته نفتي توکي اړوندو هېوادونو ته مسترد کړي دي.

## سالنګ لویه لار د کوچنیو موټرو پر مخ پرانیستل شوه

د ټولګټو وزارت مسوولینو ویلي چې له پرلپسې هڅو وروسته پرون توانېدلي، سالنګ لویه لاره د وړو موټرو پرمخ پرانیزي.
ټولګټو وزارت زیاتوي چې دا لاره یې د درنو واورو، توپانونو او د لید سیمې د لنډوالي له مخې تړلې وه.
د دغه وزارت له قوله چې که څه هم په سالنګونو کې هره شېبه د اورښت امکان شته، خو بیا یې هم دغه لاره پرانیستې ده.
د ویلو ده، د سالنګونو لویه لاره له تېرو څلورو ورځو راهیسې تړل شوې وه چې ټولګټو وزارت بیا خلاصې پرانیستله.
د سالنګونو په ګڼو برخو کې د واورې کچه تر دریو مترو هم اوړي.
دغه وزارت له موټرچلوونکو هیله کړې چې ټرافیکي قانونو ته دې پام وکړي او همداشان دې د لا احتیاط په موخه چینونه وکاروي.



**اداره‌ی محیط زیست:**


## ۳۸۳ بال پرنده را از دست قاچاقبران نجات داده ایم

فرید احمد فرهنگ سخنگوی اداره‌ی ملی حفاظت محیط زیست به خبرنگار روزنامه شریعت به ارتباط حفاظت حیات وحش گفت که این اداره در سال جاری ۳۸۳ بال پرنده، ۱۴ راس حیوانات وحشی را از دست قاچاقبران حیات وحش برگردانده و به طبیعت رها کرده است.
سخنگوی اداره‌ی ملی حفاظت محیط زیست در ارتباط روز جهانی حیات وحش گفت که مطرح سازی بحث حیات وحش و یاد آوری روزی زیر این عنوان در تحول و توسعه زندگی و جوامع انسانی رول مهم دارد. به گفته او تهدیدها و فشارهای مختلفی که بر حیات وحش وارد ... ص۷

## ساخت مکاتب ومدارس دینی درفراه

مردم فراه، درجریان همین سال، ده ها جریب زمین شان را به معارف اهدا کرده اند، روی این زمین ها، چندین مکتب ومدرسه ساخته شده است.
مولوی اخترمحمد زعیم رییس معارف فراه به آژانس باختر گفت: درجریان همین سال، بیش ازبیست وهشت جریب زمین ازسوی مردم به معارف اهدا شده است.
اوگفت: روی این زمین ها، توانسته اند چندین مکتب ومدرسه بسازند.
با ساخت این مکان های آموزشی، هزاران دانش آموز، به فضای مناسب درسی دست یافته اند.
مسوولان در فراه از انسان های خیرمی خواهد که همچنان به معارف کمک کنند.

## افغانستان بانک نن ۱۶ میلیونه ډالر د لیلام په ډول پلوري



د افغانستان بانک په خپل اېکس لیکلي چې تمه ده دغه بانک نن ۱۶ میلیونه نور ډالر لیلام کړي.
د افغانستان بانک له سوداګریزو بانکونو، د صرافۍ او پولي خدمتونو له شرکتونو څخه چې په شرایطو برابر وي، غوښتنه کړې، څو په دې داوطلبۍ کې ګډون وکړي او خپل حسابونه د لیلام د ورځې تر پایه پورې تصفیه کړي.
د اسعارو د لیلام په داوطلبۍ کې د معاملاتو قسمي تسویې ته اجازه نه ورکول کیږي، د داوطلبۍ ګټونکي اړ دي چې د خپل ذمت د قیمت پیسې په یو ځل په نغدي ډول په ټاکلي موده کې د افغانستان بانک ته وسپاري افغانستان بانک تل ویلي چې امریکایي ډالر د افغانیو د ارزښت، د خوراکي او ناخوراکي توکو د بیو د ټیټوالي او د بانکي کارونو د نه خنډتیا په موخه لیلام ته وړاندې کوي.

## د بغلان له مالدارانو سره مرسته وشوه

د بغلان د کرنې، مالدارۍ او اوبولګولو ریاست د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې په دې ولایت کې یې څه باندې دېرش زره څارویو لپاره خوراکي توکي چمتو او په مالدارانو وېشلي دي.
د بغلان د کرنې، مالدارۍ او اوبولګولو ریاست د مطبوعاتو د برخې مسؤل ولي آمرخېل وویل، چې د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست الوزرا او کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت په هدایت د بغلان ولایت مقام د لارښوونې سره سم د اړوندې کمیټې غړو د دې ولایت ټولو ولسوالیو زیانمنو مالدارانو او خصوصاً په هغو مالدارانو او کوچیانو چې د بامیان، تخار او بدخشان ولایتونو څخه بغلان ته راستانه ... ۷مخ




## ملي دفاع وزارت له ۵۵ کورنیو سره د درملو مرسته وکړه

ملي دفاع وزارت د بلخ په شولګرې ولسوالۍ کې له ۵۵ مستحقو کورنیو سره د درملو د مرستې خبر ورکړی دی.
دغه وزارت وایي چې د بلخ ولایت د ساحوي روغتون روغتیایي ټیم د ۲۰۹ الفتح قول اردو د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې کمېټې په همکارۍ د بلخ په شولګرې ولسوالۍ کې ۵۵ مستحقو کورنیو ته د اړتیا وړ درمل او طبي مرستې ورکړل شوي دي.
یاد وزارت همداراز زیاته کړې چې د ملي دفاع وزارت روغتیایي ټیمونه د هېواد په هر ډول حالاتو کې د خپلو هېوادوالو ترڅنګ ولاړ دي او له هېڅ ډول مرستې څخه دریغ نه کوي.

# رویدادهای خارجی

## وسله وال برید امریکا کې څلور تنه وژلي او ګڼ نور یې ټپیان کړي




د امریکا په کالیفورنیا ایالت کې د ډزو له کبله څلور تنه وژل شوي او ګڼ شمېر نور ټپیان دي.
نړیوالو رسنیو خبر ورکړی چې د امریکا په کالیفورنیا ایالت کې یوه وسله وال برید څلور کسان وژلي او ګڼ نور یې ټپیان کړي دي.
واشنګټن پوسټ د امریکایي چارواکو له قوله لیکلي چې د کالیفورنیا ایالت په کینګ ښار کې د استوګنې په یوه کور کې د ډزو له امله څلور تنه وژل شوي او څو نور ټپیان شوي دي.
چارواکي زیاتوي چې دا برید په یوه کور کې تر مېلمستیا وروسته رامنځته شوې دی. په دغه برید کې درې تنه ځای په ځای ووژل شول او یوې ټپي ښځې روغتون ته په لار کې ساه ورکړې ده.
د کالیفورنیا پولیس وایي چې د پېښې په علت پوه نه دي خو پلټنې کوي.

## شهباز شریف د پاکستان د نوي لومړي وزیر په توګه لوړه وکړه

د پاکستان د مسلم لیګ نواز ګوند غړي او نوماند، ۷۲ کلن شهباز شریف پرون د پاکستان د لومړي وزیر په توګه لوړه وکړه.
شهباز شریف ورمه ورځ د ۲۰۱ مثبتو رایو په اخیستلو د دویم ځل لپاره د پاکستان د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو.
شریف داسې مهال د پاکستان د لومړي وزیر په توګه لوړه کوي چې دغه هیواد له ګڼو اقتصادي، امنیتي او سیاسي ننګونو سره مخ دی.
د نوازشریف په مشرۍ مسلم لیګ ن ګوند له پیپلز ګوند سره د ایتلافي حکومت تر هوکړې وروسته د صدراعظمۍ څوکۍ لپاره شهباز شریف ونوماوه.
شهباز شریف تر دې پخوا هم د پاکستان لومړی وزیر پاتې شوی، نوموړی همداشان درې ځلې د پنجاب وزیر اعلی هم و.

## احتمال آتش‌بس در غزه، تا یک شبانه روز دیگر



یک مقام ارشد حماس از احتمال برقراری آتش‌بس در غزه ظرف ۲۴ تا ۴۸ ساعت آینده خبر داده است.
خبرگزاری فرانسه به قول از یک مقام ارشد حماس گفته است: در صورت موافقت رژیم اسرائیل با خواسته‌های این گروه، احتمال برقراری آتش‌بس درغزه ظرف ۲۴ تا ۴۸ ساعت آینده وجود دارد.
عقب نشینی نظامیان رژیم اسرائیل ازغزه، افزایش کمک‌های بشردوستانه و بازگشت آوارگان فلسطینی به شمال غزه است، خواست های حماس برای آتش بس در غزه است.
او افزوده است که آنان خواستار ورود روزانه ۴۰۰ تا ۵۰۰ کامیون حامل مواد غذایی، دارو و سوخت به نوار غزه به‌عنوان بخشی از توافق آتش‌بس هستند.
از سوی دیگر، قرار است نمایندگان امریکا، قطر و حماس در قاهره، پایتخت مصر در مورد پیشنهاد آتش‌بس شش هفته‌ای درغزه گفتگو کنند.
بر اساس گزارش خبرگزاری فرانسه، رژیم اسرائیل هنوز در این مورد تبصره نکرده است، اما یک مقام امریکایی خوشبین به آتش بس است زیرا رژیم اسرائیل با شکل و محتوای این پیشنهاد تا اندازه موافق است.
این در حالی است که اسرائیل همچنان با قساوت در برابر مردم غزه برخورد می کند حتی صف دریافت کنندگان کمک و خیمه های بیجا شدگان را هدف قرار داده است، کار که نزدیکترین متحدان این رژیم را نگران ساخته است.
از طرف دیگر افزایش تلفات نظامیان اسرائیلی، بن بست در جنگ وواکنش های داخلی در برابرنتانیاهو نیز، رژیم اشغالگر را در تنگنا قرار داده است.

**توجه !**

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**